دلمړي ځل لپاره شرقي اروپا خپله آزادي واخسته او ورپسي ددوي په دام كښي ښكيل نور هيوادونه آزاد شول چي پخپله شوروي اتحا دهم پنځلس توټي شواوبالاخره دافغانستان په مسلمان ملت دروسانو حيواني اقدام اووحشيانه يرغل دمؤمنومجاهدينوددوامداره كلك مقاومت له كبله په شاوتمبول شو او د ١٣٦٧ كال د دلوي دمياشتي په ٢٦ نيټه آخري روسي پوځ دافغانستان څخه ووتلو.

داد افغاني مومنو مجاهدينو دبي دريغه قربانيو نتيجه وه چي دومره ستر تحول يي په دنيا كښي راووست.

دروسي قواوودا جباري اخراج سره نجيب دخپل زوال اومحكمي ته داحضارخوبونه وليدل او په وارخطايي سره يي دمسلمانانو تقليد شروع كر كله يي هلته مسجد ترميم كر اوكله يي ملاامام اوخادم ته څو روپي وركړي او كله يي دعلما وو اوروحانيتو جرګي راوبللي خوبه دي پوه ته ژ چي شاعرڅه وايي .

تورحبشي كه په اوبوكښي لمبو ي ته مدام د سفيدي طمعه تري مكره دي به توربانې شي. دا چي نوموري په دي كاملاً مطمئن دي چي نږدي راتلونكي كښي دمجاهدينو په لاس په افغانستان كښي يواسلامي حكومت جوړيدونكي دي اومجاهدين به دروسانو اوګروداګي كمونستانوټول جنايات اومظالم چي د ١٤ كالو په اوږدوكښي يي په دي ملت كړي زړه بڼه په خپلوكنفرانسونو اوغونډوكښي بيا نوي اوبالاخره به كمونستان محاكمه كوي اوخصوصاً هغه ورځ چي دروسانو شرميدلي يرغلگر پوځ دمومنومجاهدينو د بي دريغه قربانيواومقاومت په نتيجه كي دخپل ملك څخه شړلي دي نو هغه ورځ به چي آخري روسي عسكر دافغانستان څخه وتلي طبعاً په داسي بونوم نوموي كوم چي ددي ورځي دافتخاراتو سره ښه مناسب وي نو نجيب دحفظ ماتقدم اومجاهدينو ته دزياتي چاپلوسي اوتملق په خاطر اوداچي دمجاهدينو اومسلمانانو دعنعناتو پيروي يي كړي وي مخكي دمخكي نوموري ورځ دملي ژغورني په نوم ياده كره يعني ددوي تعبير به داوي چي په اصطلاح په دغه ورځ همدوي ملت ته نجات وركړي.

اوگواكي روسان دكمونستانو او مجاهدينو گد دښمنان وو اودوي دهغوي په راتګ كي هيڅ رول نه لرلو. مونږوايوچي دوي بايد دغه ورځ دملي ژغورني په عوض دملي پلورني په نامه ياده كړي واي ځكه دوي دغه خاوره اوملت ددي ورځي ته لس كاله مخكي رسماً روسانو ته حواله كړي وو - اوكمونستان دهغوي په ټانكونو سپاره افغانستان ته راغلي وو.

اوبي حياكمونستانو دهمدي روسانو دخوشحالي په خاطر ددي ملت دريعه برخه له هيوادنه په شړلو مجبور كړي وواودملت ٪٢٠ فيصده يي ووژل اودملك اتيا فيصده آبادي يي دخاورو سره خاوري كره اودهمدوي درضا په خاطر يي اسلام دتوري ارتجاع اوژنګ وهلي توري په نامه يادكر اومجاهدين يي كډوال اوكوچيان معرفي كړل او بيا يي باغيان ،باغيان واجب القتل اومباح الدم كړل. نن دوي په كوم جرئت دروسانو مداخله غندي په كوم جرئت كمونيزم غندي اوپه كوم جرئت دروسانو اجباري اخراج استقبالوي.

دابل هيڅ نه دي صرف دخپل ژوند دبقا اومحاكمي ته دعفوي كيدو په نسبت دومره تملق اود دمجاهدينو اومسلمانانو عنعنات تعقيبوي اوپه دي مطمئن دي چي نن دي كه سبا دي داملك دزرغون شاه دي كه دوي واقعاً دژوند بقا اوعفوه غواړي په عمل كښي دي داكاروكړي.

په خپلو تيرواعمالو دي ندامت وښايي - حكومت دي مجاهدينو ته تسليم كړي.
خپل ټول جنايات دي جبيره كړي.
والسلام
مولوي عطا الله لودين .
دمهمندري قرارگاه آمير.
######

آقاي ج- ص- غ ازكمپ ناصرباغ: دوقطعه نامه سراپا فحش وجفنگشما به ادارهٔ شهادت مواصلت كرد ، ازمطالعه محتواي نامه چنان استنباط مي شد كه نويسنده يا به نقص عقل (سفاهت وجنون) مصاب است ويا از جانب اداره واد رژيم نجيب غرض تخريب ، ويران كاري واشاعه پراگني درميان مهاجرين ومجاهدين وظيفه گرفته است .

درصورت اول ازخداوند براي تان شفاي عاجل ميخواهيم ودرصورت دوم خداوند شمارا هدايت نمايد واگرنه به غضبش گرفتاركند .

اداره شهادت
#####

برادر محترم ، ح ، ن ، فهيم اسلام عليكم !

پارچه شعر ارسالي شما به عنوان " فتنه افسونگر " وهمچنان نوشته ديگر تان كه حاكي ازتاثرات عميق يك مجاهد واقعي ميباشد ، براي مارسيد. اداره شهادت پيوسته درتلاش خدمت به اسلام وجلب همكاري اهل دانش وفهم است ، احساسات نيكتان رابااحسن نيت بدرقه مينمايد.

اميدواريم برداشتهاي خويش را من بعد طوري نگاشته وارسال بداريد كه نزاكتهاي قلمي يك نشريه اسلامي ومتعهد درآن كماحقه رعايت شده باشد، زيرا ما درحال حاضر همه خلاء هاي سياسي واجتماعي رابا شتاب وبيحوصلگي زدوده نميتوانيم . والسلام .

درآرزوي همكاري مداوم تان .
####

نامه

برادران ماهريك شيرين آغا وپادشاه گل و ديگر مجاهدين غندورسك اسلام عليكم .

نامه شما دردسترس ماقرارگرفت .

ازحسن نيت تان نسبت به كاركنان جريده شهادت تمجيد مينمائيم ،واما ، شكايت تان ازخرابي وغيرصحي بودن غذا با وجودآنكه به گفته شما مواد ضروريه آن به قدركافي تهيه ميشود ، كاملاً موجه است. توقع ما ازمسئولين غند ورسك آنست كه بيشتر ازانكه صحت مجاهدين به وخامت بكشد ، بذل توجه فرموده مشكلات شما وساير ين را ازهرجهت برطرف سازند.

والسلام .
######

برادرمحترم محمد عظيم مهاجر افغاني دردهلي ،اسلام عليكم وعلي من لديكم.

نامه مطول تان ازمسافه دوريه اين اداره رسيد واز محتويات آن كه حامل پيام هاي لطيف آميز وهمچنان تحذير ازمكايد دشمنان داخلي وخارجي بود، مستفيد گرديديم پناه به خدا !

"دشمن اگرقويست - نگهبان قوي تراست"

به آرزوي مكاتبه مداوم تان ، والسلام
#

برادر گرانقدر امرالله " حميدبار" السلام عليكم !

اينكه ازجمله شايقين مطالعه جريده شهادت هستيد بر منسوبين آن ، منت بخشيديد.

علاقمندي تان را باسپاس ،پاسخ ميگوئيم

واما انتقاد نخستين شمادرموردعدم رعايت عدالت درتوزيع كمك ماهوار معلمين كه" بگفته تان ناشي ازعنوان مسلكي وغير مسلكي ميباشد ،قابل توجه است .

زيرا ، تعيين وتفكيك رشته ومسلك واشتراك واستدراك درجه تحصيل اشخاص بنابر ملاحظاتي دراين ديارهجرت . محتاج دقت وموشگافيست .

اگربراي عده يي بنام مسلكي امتيازقايلند ،لزوماً آن ذواتي كه حفاظ قرانكريم اند، دومرتبه اعلاي مسلكي شمرده ، حقوق كافي تر بپردازند.

ثانيا ،درموردخشكيدن چاه آب اكوري ختك ، توجه نماينده حزب اسلامي رامعطوف ميداريم .

ازطريق مراجع مربوط ، مشكل خشك آبي مردم آنجا را زود ترمرفوع بدارند.

والسلام .

دنوم بدلول

ورور عبدالرحمن دلغمان ولايت اوسيدونكي ددعوت اوجهاد پوهنتون دطب پوهنځي محصل دي، خپل نوم په گل خان بدل كړيدي ،هيله ده هغه دگل خان په نامه وپيژني .

پرکابل دحکومت حق، لمړي دمجاهدینو دي

دزید. اي سلهري لیکنه : دمحمدرحیم خنجر ژباړه

افغانستان اوپنځه پخواني روسیه کي دمرکزي آسیااسلامي جمهوریتونه یودبل سره لازم اوملزوم دي . ځنگه چي دمرکزي آسیا اسلامي جمهوریتونه دروس دسري امپراتوري له خوابوه قبضه شوي سیمه وه نودنوموړي سیمي خلك په مذهبي ، نسلي، تهذیبي اولساني لحاظه له روسانو سره زیات تفاوت لري هغوي له خپلو روسي حکمرانانوسره دمحبانه اودوستانه علایقو ته ساتلو په غرض روسان له خپله ځانه بي اعتماده کړي وو . اوله دوي ځخه ورته ورځ په ورځ دبغاوت اوسرکشۍ ویره پیداکیده نوددي په وجه یي دهغوي دځپلو له پاره له هري حیلي اوحربي نه کاراخسته . ددي غیر یقیني کیفیت پربنادغي اسلامي سیمي روسانوته دنرمي گیډي حیثیت درلود یعني داهغه سیمه ده چي له روسانوځخه دخپلواکي آرزو درلوده . اوله خارجي مداخلي نه متاثره کیدلي شول . کله چي بریژنیف د ۱۹۷۹ کال په دسمبرکي پرافغانستان باندي تیري اوحمله وکړه ددي مداخلي له پاره یي داجوازورکړچي له دي اقدام ځخه دروسانو هدف یوازي اویوازي دنرمي گیډي یعني مرکزي آسیا داسلامي جمهوریتوحفاظت اوساتل وو .

دروسي کمونستانوله نقطه نظره دمسکو داعمل بالکل پرځاي و، دمرکزي آسیاله پاره کابل (افغانستان) ددروازي حیثیت درلود . که چیري دادروازه دغیرکمونستانو پلاس کي ولویږي نودکمونستانو دعقایدو اونظریاتو دنابودي سبب گرزي له یوي خوانه یي دپاکستان له اسلامي هیوادنه اوله بلي خوانه په ایران کي نوي اسلامي انقلاب دکامیابي پړاوڅه رسیدلي و اوروسان یي په ویره کي اچولي وو چي هسي نه ددوي نفوذ په مرکزي آسیاکي سرایت ونکړي . پرکابل باندي دروسانو پوځي مداخلي دبریژنیف خپلسري اودکمونستانو په وینو لړلي نظریي دي دروازي ته کولپ (قفل) ورواچاوه . او روسیه یي دمسلمانانو له مداخلي محفوظه وساتله ، دبریژنیف له دي عمل ځخه یوه خبره په داگه شوه هغه داچي په مرکزي آسیاکي نارامي دومره زیاتي شوي چي دهغي دمخنیوي له پاره هیجاسره همدلچسپي نه وه دغه نارامي دتوجه وړیو اقدام و ترکستان (ددي سیمي اصلي نوم و کمونستانو داپه پنځه ممالکو ویشلي وه) مسلمانان نه یوازي داچي دپیړیو راهیسي د روسانو دغلامي اواسارت لاندي شپي تیرولي بلکي له یوه نظام اونظریي سره په کشمکش کي راگیروو چي دهغوي تشخص یي بالکل ورختم کړي وو، دپلرني مفکوري امید یي هیڅ په نظرنه راته . هلته په رښتیا سره یوداسي تحریك سراپورته کړي وچي دخپلي آزادۍ له پاره یي زیرزمیني فعالیت کاوه له دي فعالیت ځخه روسانو دخپل سلطنت دراتلونکي په هکله دخطراحساس کاوه ، که چیري دمرکزي آسیا عوامودخپل اصلیت ژوندي ساتل غوښتل اودخپلي آزادي له پاره یي گامونه اوچت کړي واي نودهغوي له پاره یوه لاروه ، داسلام لاره ، دکابل لاره ، ددي له پاره دکرملین حکمرانانو "دایوضروري امروگاڼه چي دالارینده کړي او دمرکزي آسیا ارتباط له بانديني هیوادوخصوصا له اسلامي نړي نه قطع کړي هغوي نه یوازي داچي په افغانستان باندي حمله وکړه . دکابل لارېي وتړله بلکي ددي په ځنگ ځنگ کي یي ورسره په پراخه پیمانه دکمونیزم دمفکوري دخپرولو له پاره پلانونه اوطرحي هم جوړولي همدارنگه دمرکزي آسیا اسلامي جمهوریتونه دماسکودائستبداد اوظلم له پاره وتړل شوه .

که په رښوسترگوولیدلي شي نومعامله داسي نه وه لکه ځنگه چي امریکا پوهیدله چي روسانودځمکي پرمخ دټولو خلکوپرغاړه دفتوحاتوتجع ایښي دي اوپرمخ تللي ده غواړي په ډیرو دتسلیمي لاسونه اوچت کړي . له بلي خواداکارپه منځني ختیځکي دامریکا دتیلو داجاره داري له پاره لوي خطرو، اوس معلومه شوه چي دماسکو دااقدام پخپله په روسیه کي دکړکیچ دراپیداکیدو دمخنیوي په وجه و اودهغوي په نظردافغانستان پرخلاف پوځي مداخله دپوځیانودلچسپي اودفاع وه که په افغانستان باندي پوځي یرغل هغوي دځان له پاره جوازگاڼه لیکن دافغانستان له پاره له قیامت نه کم نه و، دولس کاله کیږي چي داجنگ پیل شوي دي . دگورباچوف دوینامطابق په دي جنگ کي لس لکه روسي پوځیانو برخه درلوده .

په دي جنگ کي لوي قوت (روسانو) له نویو اومهلکووسلو ځخه کاراخستي ، نه یوازي داچي دابوه داگیزه اونتگینه مداخله وه بلکي له پیل ځخه داجنگ دکمونستانو دشومو اغراضو اواهدافو دپیاده کولو یو تحمیلي جنگ هم و، ترځوداافغانستان په گوټ گوټ کي دکمونیزم تخم وشیندي اوددي کرل شوي تخم له فصل ځخه دماسکوترله سیمه بیبرازه اوسرسبزه شي له هغه اراوو اوامیدونو سره سره چي روسانوله ځانه سره لرل له خپلو ټانکونو اووسلو سره دخپلو وینو اوزړوو پوځیانو په شمول افغانستان ته دلوټماري اووژني له پاره ورداخل شول ځودمقابلي له پاره یي خالي لاس هغه سرتیري سرباز ان ولاړوو چي هیڅ دول وسله ورسره نه وه . لیکن دهغوي زړونه دایمان په نورروښانه او سمبال وو، هغوي وعده وکړه چي داسلام خاوره په داسلام وي . اودلته دکفر له پاره دپښو ایښودوځاي نشته . ددي وعدي دسرته رسولو له پاره هغوي دیري ځاني اومالي قرباني ورکړي، دافغانستان جهاد په حقیقي معناداسلام اوکفر جنگ وو ، ددي جنگ دگټلو له پاره یي بي حده قرباني ورکړي شوي دي ، یونیم ملیون کسان شهیدان شوي، په لکونو زخمیان ،بي لاسه اوبي پښو شوي، څلوینښت پنځوس لکه کسان مهاجرشوي لیکن له دومره شهیدانو اوقربانیو سره سره بیاهم تري څه نتیجه په لاس راغله؟ نتیجه یي داشوه چي دجنگ په دگرکي روسان دافغان مجاهدینو په لاسونوله یوي لوي رسواماتي اوشکست سره مخ شول . لکه ځنگه چي روسان په دي جنگ کي دکمونیزم په نوم جنگیدل دلته داسلام اصلي شان وشوکت پرخپل ځاي باقي پاتي اودکمونیزم له دروغوکه پرده خبري شوه . دروسیي زوال له افغانستان ځخه شروع شو . دافغانستان له جنگ ځخه روسانو ته دوه ډوله عذاب ورسید، اول داچي په دي لس کلنه جگړه کي دهغوي پوځي قوت دومره کمزوري شو چي نوریه شرقي اروپاکي هم دهغوي دسلطنت اوقدرت پڅرمخ په ړنګیدو شو په داسي دبیچاره گي حالت کي له هغه ځایه ځخه تیښتي ته مجبورکړاي شول لکه په نیمه وجه (دهنداوپاکستان) کي برطانیه دوهم داچي، په دي اوږده جگړه کي دروسیي په اقتصاددومره بوج پریوت چي دهغوي حالت پري بالکل بدل شو . او دکمونیزم اقتصادي نظریات یي پراخ کړل . پرکمونیزم دکمونیستي مشرانو عقیده ختمه شوه دگورباچوف پرانستي پالیسي کاملا دکمونیزم داقتصادي نظریي منافي وه اوددي نظریي دتبلیغ له پاره گلاسناست اختراع اواستعمال یي دکمونیزم دسپکاوي وسیله وه . بیاهم که چیري کمونستي مشرانوپرکمونست گوندپوري ځان نښلاوه لامل یي داوچي له هغوي سره دحکومت دنظام کومه متبادله لاره نه وه .

دافغانستان دجنگ دادوه نتیجي دختیځي اروپا آزادي اودکمونیزم پرځاي دپرانستي پالیسي اثر اورسوخ دسري امپراتوري دزوال عوامل برابرکړل دختیځي اروپا دیه شاتگ پریکړي چي په هغه کي لویدیزته سه راغلاست وویل شول اوگورباچوف یي دلویدیزقهرمان اودسولي دنوبل دجایزي مستحق وگرځاوه او واشنگټن ته دسري امپراتوري کمزورتیا نه په داگه شوه اودهغه دلویدلي ځواك پیمانه په لاس ورغله چي هیڅ قوت دصحت اوقوت په حالت کي له سلطنت نه لاس اخستلوته نه آماده کیږي . گورباچوف خولویدیزته گران و، خوارهم و، چي دامریکا اواروپایي ټولني له مرستي پرته دپراسترایکا آزاد اقتصادي مارکیټ نشو چلیدلي . گورباچوف خپل مجبوریت گاڼه چي په افغانستان کي جنگ بندکړي له ختیځي اروپا نه زروونځي اوتردي هم زیات داچي دآزاد اقتصادي مارکیټ بهتروالي ومني هغه دااروپا اوامریکا زړه لاس ته راوړي بلکي پرهغوبي احسان کړي دي چي دهغه په صله (بخشش) کي لویدیزله هغه سره اقتصادي مرسته چي دهغه ورته سخته اړتیاوه وکړي . ددي پرعکس غرب په دي تلاش کي و چي دگورباچوف له داسي مشکلاتو ته څومره فایده اخستلاي شي په هماغه اندازه یي وکړي . دوخت په تیریدواودشرایطو په بدلیدو دهغو دمرستو اوکومکونو شرایط هم سختیدل په حقیقت کي دهغوي نظر داهم وچي دکمونیزم اوسپښیزنظام له نهایي شرمنده گي اورسوایي سره مخ کړي ، اوترهغه پوري چي دهغوي نظام برقراروي په هماغه اندازه دکمونستانو ارادي هم لوري وي

دلته داسي ،هلي ځلي رواني وي چي کمونست گوند ځه دول اقتصادي لاري چاري خپلي کړي که هغه دآزاد اقتصادي مارکیټ لاره هم وي او دستالین نه نیولي ترگورباچوف پوري دي گوند مختلفي لاري چاري غوره کړي وي ، که حکومت دکمونستانو په لاس کي وي هغه به تینگ پاتي شي اوکوم بهرني عامل اواغیزبه دهغه په معاملاتوکي دخل ونشي کړي دهغه دننه دسازش ، روغي جوړي اوویش سلسله دبرگوندیزي جمهوریت خپل منزل ته رسولي شول . او ددي نظام دنافذولو له پاره دکمونست گوند ماتیدل له حده زیات ضروروه . لیکن دجمهوریت دنامه سره هم گورباچوف په دي خوښ نه وچي بیا دهغه داقتدارله پاره کوم اساس نه پاتي کیده دکمونست گوند له خوادرام ددي لپاره سنج شوي و چي دگورباچوف مزاحمت متضررشي اودهغه درايي دبدلون له پاره لاره هواره شي لکه چي کمونست گوند مات شو نودسري امپراتوري ماتیدل هم لازمي شول . داځکه چي دکمونست گوند حیثیت دیوتار په څیر وچي پنځلس مملکتونه یکي دقیمتي دانویه څیرپییل شوي وو، کله چي هغه تاروشلیدنوداني یي پخپله تیتي شوي اودشوروي اتحاد نوم او نښان له منځه ولاړ، روسیه ماته نه بلکي غائبه شوه له هغي نه داسي کندواله هم پاتي نه شوه چي انسان هغه وگوري اوعبرت تري واخلي مگریوازي دلیان مومیایي شوي بوت په دي شرط چي جمهوریت مآب ! یلتسن دفاشیست کمونیزم دانشان وزغملي شي، گورباچوف خوش بخت ووچي روسیه دري وري شوه کنه نوددنیاتر ټولو دسترسلطنت دټوټه ټوټه کیدو مسوول به گڼل کیده .

دامریکا له پاره به یقینا دروسیي ماتیدل دخوشحالي اوتسکین باعث وي ځکه چي دهغه دقوت چلنج کوونکي ځواك پاتي نه شو لیکن شایي دمسلماني منځني آسیا موجودیت اوآزادي دهغه له پاره دخوښي ورنه وي ځکه چي هغه په دي مهمه علاقه کي دمسلما نانوټولنه اوقوت زیاتوي .

دوام لري

پر امریکایي پالیسیو یهودو تسلط

ژباړه : تور گل ځمکني

دریمه برخه

ددي لپاره چي دامریکا خارجه پالیسي داسرائیلي گټو سره سمه ترتیب شي، خوداسرائیلي ایجنټانو په ستراتیژي کي وله ایزخبري وسایل هم ستررول لوبوي . دنوموړیو وسایلو له لیاري یهود خپل هدفونه په مختلفو طریقو ترسره کوي . کله دیوي مهمي واقعي په باب خاموشي اختیاروي لکه چي داسرائیلو له خوا دعراق داتومي بټي بمباري ، داسرائیلو او جنوبي افریقي ترمنځ ژوره همکاري . کله هم حقایق په بدل شکل کي وړاندي کوي لکه چي حقیقي مسلمانان د" بنیاد پالو"، فلسطینیان دترورېستانو " په نومونو یادوي .

دایران – کانټرا جنجال یوه له مهمو پیښو ځخه شمیرل کیده ، مگر دامریکائي مطبوعاتو اوکانگرس له خوا په دغه باب بشپړه خاموشي غوره کړاي شوه . اسرائیل چي دلاتیني امریکا ځینو لاسپوڅو رژیمونو ته وسلي ورکوي چي دخپلو اولسونو پرخلاف ئي استعمالوي یاکله چي امریکائي پوځونو پرپاناما یرغل وکړ، نوپه دغه وخت کي دپاناما درئیس جمهورجنرال نوریگاخاص مشاور مایك قراري چي داسرائیلو دجاسوسي دشبکي ، موساد، ایجنټ و، نوپه حیرانوونکي توگه ورك شو اویاداچي اسرائیل دنشه ایزو شیانو په وروراوروکي لاس لري، توامریکا ئي مطبوعات پردغسي حساسو مسئلو خاموشي اختیاروي .

له بلي خواکله چي په ۱۹۷۹ م کال کي په ملگرومللتونو کي دامریکا نماینده اندرویانگ دفلسطین دآزادي دتنظیم له نماینده سره وکتل نوامریکائي مطبوعاتو شورماشور جوړکړ چي په دي سره اندرویانګ خپله کرسي له لاسه ورکړه . په داسي حال کي چي په ۱۹۸۱ م کال کي په ملل متحد کي دامریکا نماینده کیرك پاتریك دجنوبي افریقاله یوه پوځي هیئت سره په امریکا کي وکتل چي داکتنه هم دامریکا دقانون پرخلاف وه ، مگر په دغه باب حکومت اوامریکائي مطبوعاتو خاموشي اختیارکړه .

په ۱۹۸۱ م کال کي چي دسي آي اي پخواني مرستیال دامریکا داي بي سي تلویزوني شبکي سره په مرکه کي داسرائیلو داتومي پروگرام په باب توضیحات ورکړل نو مطبوعاتو اشاره هم ورته ونکړه کارل دوکسیت چي په سي آي اي کي دعلومو اوتکنالوژي دشعبي مشرو وویل چي دسي آي اي دمعلوماتو پراساس اسرائیلو په ۱۹۷٤م کال کي داتومي وسلو دجوړولو توان پیداکړ، نوموړي زیاته کړه چي داتومي وسلو دجوړولو لپاره اسرائیلو دپنلسوانیا داپولو له موسسي ځخه لس کاله ترمخه .۹ کیلوگرامه یورانیوم غلاکړل . دنوموړي مشر دغه څرگندوني "وس د " سمسون دطرحي " په نوم خپري شوي چي میبمورهبرش ترتیب کړي دي .

بنیادپاله عیسوي اکثریت چي دیهودي ټولني له تنقید سره مخامخ شو نودبي لاس عیسوي گروپونو چي دریگن ملاتړئي کاوه په ۱۹۸۱ م کال کي ئي په نیویارك تایم اووال ستریټ ژورنال کي دیوه اعلان په ترڅ کي په کلکه داسرائیلي دولت ملاترو کړ چي په دي کارسره دیهودو تسلط نورهم زیات شو .

همداراز د ۱۹۸۱ م کال دفبروري په میاشت کي په واشنگټن کي دجورج ټاون پوهنتون دلیبیا له خوا دشپږوسوو زرو دالرو مرسته دیهودو دفشارله کبله مسترده کړه چي نوموړي پوهنتون ته دعربي کلتوردمطالعي لپاره په ۱۹۷۷م کال کي ورکړاي شوي وه .

داسرائیلودجاسوسي شبکي " موساد " مامورین په امریکاکي په آزادنه توگه فعالیت کوي چي زیاتره وخت دامریکا قوانین په نظرکي نه نیسي، په داسي حال کي چي بل خوك په دغسي کارونو لاس پوري کړي، نودقانون دماتولوپه تورتورن کیږي . په ۱۹۸۹م کال کي په امریکائي مطبوعاتوکي شورماشور جوړشو چي دمصرپوځي اتاشي غوښتل چي خپل ملك ته " حساس مال " دقاچاق په توگه یوسي، همدارنگه ارشاد پرویز چي دپاکستان اوسیدونکي ؤ، په دي بناء بندي کړاي شو چي اتومي مواد ئي په قاچاقي توگه له امریکا ځخه بیرون ته لیږدول ، مگرد شواهدو دنشتوالي له کبله دامریکائي محکمي له خوا ترلږي مودي بند وروسته آزادکړاي شو .

په امریکائي مطبوعاتوکي دغسي خبرونه لکه چي اسرائیلو له امریکاڅخه داتومي خبرنو په باب پټ معلومات ترلاسه کړي، په اسرائیلو کي نژادي توپیرروجودلري . اویاداچي دسپین پوستو اروپا یي یهودوله خوادشرقي یهودوسره امتیازي سلوك کیږي ، باخوبیخي نه چاپ کیږي اوکه چاپ هم شي نودبي اهمیته ورو خبرونو په څیر چاپ کیږي .

دیهودو په مقابل کي دامریکا دحکومت بي وسي له دي هم څه څرگندیږي چي بیت المقدس کي دامریکا کونسل جنرال داسرائیلو له خوا دفلسطینیانو دځورولو په باب خپل حکومت ته راپوروکړ. مگرد کارترحکومت د " انساني حقوقو " په باب په خپل کلني رپوټ کي پورته ذکرشوو تیریوته ډیره لږه اشاره کړي وه . حیرانوونکي خبره خوداوه چي امریکائي مطبوعاتوپه دغه باب هیڅ هم ونه لیکل .

دامریکائي یهودي کمیټي له خواچي " بي طرفه " مجله خپریږي ، نوپه هغي کي دامریکا حکومت ته مشوره ورکول کیږي چي په دریمي نړي اوپه خاصه توگه په عربي هیوادوکي له طاقت ځخه کاروا خلي .

نوموري مجلي په ۱۹۷٤ م کال کي دیوه مضمون په ترځ کي ولیکل چي که ددویم ځل لپاره عربي هیوادونه غرب ته په خپلو تیلو بندیز ولگاوه ، نوامریکا باید دعربو دتیلو پرذخیرو قضیه وکړي . په هغه وخت کي دامریکا دخارجه چارو مسئول داکترکیسنجر هم دخپل خارجي سیاست لپاره همدا موضوع غوره کړه اوهڅه ئي کوله چي داخبره ثبوت کړي چي امریکا حق لري چي دطاقت په ذریعه دعربوپرتیلو قضیه وکړي .

په ۱۹۷۹ م کال کي دکارترد " جورجیادمافیا " گروپ یویهودي غړي ستارت ازینستات کارتر ته په ته په یوه یاداشت کي ولیکل چي دتیلو دصادرونکیو هیوادوتنظیم " اوپك " باید داصلي دښمن په څیراعلان شي ځکه چي دامریکا دااقتصادي کمزوري " اصلي وجه " همدغه داوپك تنظیم دي، چي هرامریکائي مصرف کوونکي ته ئي تاوان رسولي دي، ترڅوچي دعربي هیوادو پرخلاف دخلکوکرکه راوپاروي .

یهودله یوي خوا غواړي چي عربي هیوادونه په عامه توگه اوفلسطینان په خاصه توگه په ټوله نړي کي بي اعتباره کړي اوله بلي خوا د" اسلامي بنسټ پالي " خبره دي حدته ورسوي چي دسري جگړي دوخت په شان دعام امریکائي وگړي احساس دکمونستي خطرپه ځاي د" اسلامي خطر " پرخلاف راوپاروي . کله چي یوځاي عرب په امریکا کي په یوه کارکي پانگه لگوي نویهودشورماشورجوړوي چي عرب امریکا اخلي په تیروځوکلنو کي یهودهڅه کوي چي دامریکا مشهورمطبوعاتي وسایل په خپل واك کي راولي . د "نوي جمهوریت " په نوم اوونیزه چي یووخت دآزادو افکارو خپرونکي وه اوس چي دیهودومارتین پریتزله خواالخیستل شوي نودصهیونیستانو مطبوعاتي ارگان شمیرل کیږي . همداراز یوبل بداي یهود مارټیمرزوکیرمان په ۱۹۸۲ کال د" اتلانتیك " میاشتني مجله اوپه ۱۹۸٤م کال کي دیوایس اینډ نیوزورلډرپورټ مشهوره اونیزه هم واخستله .

ځه وخت به چي دکمونست روس اخلاقات له عربي هیوادوسره پیداشول ، نویهودویه دروس ملاتړیبل کړ، ځکه چي یهودوته یوازي اویوازي داسرائیلي مفادودساتني وظیفه وریه غاړه وه . حبشه چي دروس له گوداگیانوڅخه شمیرل کیده . کله چي داقتصادي ستونزوسره مخامخ شوه اوچي امریکا ورسره مرسته پیل کړه نویهودو په دغه باب خاموشي اختیارکړه ځکه چي دحبشي دماتي په وخت کي به سره بحیره دعربوترکنټرول لاندي راتله چي اسرائیلو ته ئي سترخطر متوجه کاوه .

همداراز اسرائیلو شورماشورجوړکړیدي چي پاکستان " اسلامي بم " جوړکړي دي اواسرائیلوته یي ستر خطر " پیداکړیده . یهودي پروپاگنده نوره هم زیاته شوي اوتورئي لگولي دي چي لیبیا پاکستان ته مرسته ورکوي چي خپل اتومي پروگرام پرمخ یوزي چي په دي بناء داسرائیلو مشران له غربي هیوادو اوپه خاصه توگه له امریکا غوښتني کوي چي داسرائیلو دخطر دمخنیوي لپاره دي چټك گامونه پورته کړي .

دامریکائي یهودوداهم لویه کامیابي شمیرل کیږي چي عربي هیوادونه نشي کولاي چي خپلي مرستي په منظم توگه ورسوي . په امریکا کي دیونیم میلیون ځخه زیات امریکائي عرب ژوند کوي چي دهغوله جملي ځخه شپیته زره یوازي فلسطینیان دي، سره ددي چي رالپ نادر اوحمیس ابوازرك په ملي سطح پیژندل شویدي ، مگرامریکائي عرب په خپل منځ کي یووالي اوهماهنگي نلري اودبلي خوادمالي ستونزو سره مخامخ دي چي سیاسي اغیزئي خوراکم دي .

خرنگه چي په ټوله نړي کي دمسلمانانویووالي ورځ په ورځ مخ په زیاتیدودي اوپه امریکاکي چي شپږمیلیونه مسلمانان اوسیږي نودهغوترمنځ یووالي او سیاسي بیداري رامنځته کیږي چي دامریکا مسلمانان پردي وتوانیدل چي په ۱۹۹۰م کال کي په واشنگټن کي د" امریکا دمسلمانانو شورا" جوړه کړي . ځه وخت چي دنوروټولنو اغیز زیات شي اودیهودي ټولني اغیز راکم کړاي شي نوامریکایه هم مجبوره وي چي دټولو اقلیتي ټولنو سره په برابره توگه سلوك وکړي اوکه داسي ونه شول نودایپك دپخواني مشر موریس امیتي مکسیم داخبره به رښتیا وي چي " وايي په ځه کي چي داسرائیلو خبروي نوپه هغه کي به دامریکا خبرهم وي " .

نصایح

- علامت غفلت وتنبلي نشستن باغافلان وتنبلان است .
- زندگي مسروومیخواهید دیگران راخوش سازید .
- قریب درگاه خدا کسي است که برمخلوق خدا (ج) شفقت نماید .
- ظالم دنیاي مظلومان راخراب مي نماید وآخرت خودرا.
- ازجواب دادن برسخن لهوزبان رانگهداروخودهم ازگفتن لهوبپرهیز.

سیدعبدالقادرجیلاني "رحمة الله علیه "

- کاریکه فاقد حکمت باشد آفت است ونظریکه خالي ازحکمت باشد ذلت است.
- دروغ قبل ازهرچیز به گوینده اش ضرومي رساند.
- روح ازغم توانایي مي یابد
- کسیکه ازمحبت دنیا ، خود را نجات مي دهد براي خود ودیگران ثمربخش است.
- عاقل قبل ازحرف زدن فکرمي کند ونادان بعد ازآن .
- آزادي چشم وزبان ،براي روح زندان مي آورد.
- عذاب دنیا دراینست که دل مرده باشد.
- دشمن بزرگ انسان نفس خودش است.

حسن بصري (رح)

- صحبت بابدان نیکان را بدگمان میسازد
- کسیکه آماده مردن نیست گمان مي کندکه فردا زنده است.
-کسیکه بر دیگري فضل میفروشد متکبر است.
- کسیکه درمقابل ظالم لبخندمیداره ودرمجلس برایش جاخالي مي کند ویا براوچیزي میدهد ویا از او مي گیرد رابطه خود را با اسلام قطع ودرزمره اعوان ظالم بشمار مي آید .
- ایمان کامل آنست که وقتي مصیبت پیش آیدبه خداوند الزام تراشیده نه شود ویا فکر آرام ابراز سپاسگذاري گردد.

حضرت سفیان "ثوري"

امثال

زبان بستن بهتراست مگر درچارجاي :
۱- دراظهار حق ، ۲- درطرد باطل ، ۳- در ابراز شکرانه ٤ - دراظهارعلم به نیت بهره مندي دیگران .

- عقل مشاور اندرزدهنده است .
- هرسخن جایي وهرنکته مکاني دارد .
- به یتیم گریستن رامیاموز .
- علم درسینه هااست نه در سطور.
- براي هرعملي ثوابي وبراي سوالي جوابي است.
- کسیکه به بدي تعاون نمود ، ظلم کرد.
- یاري ومساعدت کن ولو بوسیله صداوآوازباشد
- قناعت پادشاهي است ودریوزه گري بندگي .
- چشم هوي وهوس راست نمي نگرد .
- به چشمي که مي بیني به همان چشم دیده میشوي .
- چیزیکه عیان است ، چه حاجت به بیان است.
- زبان حال روشن کننده تر اززبان گفتار است.
- الاغ لاغرخود ،بهتراست ازاسپ چاغ دیگران .
- خاین برتو کسي است که تو را به بدي رهنمایي کرد.

براي هر روزیکه مي آید روزي است .

- فریبنده ترازسراب.
- غضب اساس ناداني است .
- صبح آدمي را از چراغ بي نیاز گردانید
-چشم تنگ دنیا دارا باقناعت پرکند یاخاك گور.
- توانگري روح ارجمند تر ازتوانگري تن است .
- بدگویي وغیبت دیگران اظهار ضعف نفس بدگووغیبت گراست.

ازچهارگوشه جهان

خط وکتابت همزمان باظهوراسلام درمکه:

یکي ازنکات برجسته ایکه درتاریخ اسلام جلب نظرمي کند ونشان مي دهد که همزمان باحیات رسول اکرم (ص) ونیز همزمان بانبوت اوعده اي درمکه به خواندن ونوشتن آشنایي داشتند.

که حفصه دخترحضرت عمر(رض) که همسررسول اکرم (ص) بود نیز درجمله آنها شمرده مي شد.

دراینکه ایا مکه برمدینه درآشنایي به خط وکتابت،مقدم بوده ، یانه ، مؤرخان دچار اختلاف نظر مي باشند که البته با مطالعه قرائن زیربايد مکه رابرمدینه مقدم بدانیم.

۱- مکه نقطه اتصال وحلقه ارتباط میان نواحي مختلف جزیرة العرب وسایر ممالك دیگر بوده وباید پیش ازسایر نقطه هاي دیگر جزیرة العرب دراین فن را آموخته ، وازواردین مظاهر تمدن ومصارف را کسب کرده باشد وتاریخ ورود خط در جزیرة العرب نیز همین امر را تایید مي نماید . ۲- مردم مکه از دو مسافرت تجاري فصلي : زمستاني به یمن وتابستاني به شام پیوسته برخورداربوده اند.

یمن مرکز تمدن عربي در جزیرة العرب به شمار مي رفت وشام نیز مرکزتجمع فینقیها بود وهمین فینقیها بودند که خط وحروف مصري را به حروف هجاء نسبتاً ساده اي بر گردان نموده ، که بعد ها بصورت خط آرامي معروف گشت .

۳- درمکه ، بازارهایي تشکیل مي یافت که تازیان ازنواحي مختلف به منظورهاي گوناگوني به آنها روي مي آوردند ، واین بازارها به مسئله خط وخواندن ونوشتن ، معمولاً پیوند وارتباطي داشت.

قابل یاد آوریست که خطوراَن زمان بدوگونه نوشته مي شد یکي خط نسخ که معمولاً درنامه نگاري ونوشته هاي عادي بکار مي آمد ودیگري خط کوفي ، وبخاطر اینکه این خط و شکل حروف آن درکوفه پختگي یافت به خط کوفي موسوم گشت.

ونامه اي که از طرف حضرت محمد (ص) به مقوقس فرستاده شده وبه خط نسخ عربي نگاشته شده است الآن درموزه اسلامبول ترکیه موجوداست وهم چنان نامه دیگر حضرت محمد (ص) که به منذربن ساولي نوشته شده درکتابخانه وین پایتخت اطریش) موجود ومحفوظ است.

ابن رشد کي بود ؟

ابن رشد فیلسوف عرب زبان ودانشمندي بود که در قرطبه (اندلس) به سرمي برد ، بدون اینکه رابطه خود را با اسلام قطع کند جنبه هاي ماتریالستي فلسفه ارسطو را درفلسفه خود گنجاند اوسعي کرد ثابت کند.

که ماده قدیم وفنانا پذیراست ، وي منکر جاویداني بودن روح بود وبروز معاد اعتقادنداشت براي اینکه بادینداران مخالفتي نکرده باشد . حقیقت مضاعف را ابداع کرد به این معني که اظهار داشت در جهان دونوع حقیقت وجود دارد ، حقیقت ایماني وحقیقت فلسفي ابن رشد ازعرفان غزالي شدیداً انتقاد نمود و شرحي به آثار ارسطو نوشت که در آشنا کردن اروپائیان بافلسفه ارسطو نقش مهمي بازي کرد .

آئینه چیست ؟

آئینه از آهن مشتق شده معلوم مي شود این واژه ارتباط به آهن دارد حقیقت آنست که درقدیم آئینه را از آهن صیقل زده میساختند. ولي امروزآئینه ازشیشه بي صیقل زده که لعابي ازیك طبقه (نقره اي را در بردارد درست مي شود.

نخستین

نخستین سفینه اي فضایي که برکره ماه فرود آمد لونا (۹) روسي بود.

نخستین فضا نوردیوري گاگارین روسي بود.

نخستین کشوري که ماه مصنوعي را به فضا پرتاب کرد ایالات متحده امریکا بود.

نخستین اروپایي که به چین سفر کرد مارکوپولوي ایتالیا یي بود.

نخستین اروپایي که دورجهان سفر کرد ماژلان بود.

نخستین زنیکه نخست وزیرشد باندارانایکه سیلوني بود

نخستین شخصي که توانست اتم رابشگافد راترفوردانگلسي بود.

نخستین اروپایي که هندرافتح کرد اسکندرمقدوني بود.

نخستین ولایتي که بدست مجاهدین فتح شد کنر ها بود.

نخستین تنظیم اسلامي که درافغانستان پایگذاري شد نهضت جوانان مسلمان بود که بدست عبدالرحیم "نیازي " پایه ریزي شد.

نخستین تنظیم اسلامي زنان افغانستان بدست ام عبدالله " یاسر " پایگذاري شد.

اتازوني (ایالات متحده امریکا)

پایتخت آن واشنگټن بوده ویك جمهوري فدرال درشمال براعظم امریکاست ، اتازوني شامل پنجاه ایالت ومنطقه ي فدرال کولومبیا ست هریك از ایالت ها درامور داخلي خود مستقل اند ولي درامور خارجي تکیه بر دولت فدرال دارند. واشنگټن متعلق به هیچ یك از ایالات نمي باشد ومستقیماً بوسیله دولت مرکزي اداره مي شود.

رئیس جمهورامریکا هرچارسال یك بار انتخاب مي شود وداراي اختیارات زیاد میباشد شهر هاي مهم اتازوني عبارت انداز نیویارك ، واشنگټن ،لوس آنجلس ، سانفرانسیکو ،شیکاگو، بوستون بالتیمور، دترویت ومیالي.

امریکا از سرمایه دارترین کشور هاي جهان بوده ومدنیت پیشرفته دارد ، چون یك کشور سرمایداري دست اکثرممالك رویه انکشاف جهان را از طریق قرضه هاي دراز مدت وسودگزاف تحت استعمار خویش دارد. دستگاه جاسوسي " سیا" که گرداننده سیاست هاي امریکا است درسراسرجهان برخلاف منافع ممالك دیگر فعالیت هاي تخریبي دارد وافساراکثرحکام ممالك جهان رابخصوص راس موسسه ملل رادردست دارد ، خطر ناکي این دستگاه در حدي است که تمام واقعات دلخراش جهاني بدست نامبارك ایادي و اذنابش انجام مي یابد.

ازعجائب عالم

یك زنیکه حدود هفت ونیم ماه حامله بود طي یك حادثهٔ ترافیکي جان داد اما پس از بیست وسه ساعت طفلش زنده تولدیافت این واقعه را دوکتوران امریکایي یك معجزهٔ غیبي خوانده اند زیرا تولد طفل زماني انجام یافته است که زن مذکور از طب عدلي هم گذشته وبه قبرستان انتقال یافته بود وطفلش نه درشفاخانه بلکه دربستر قبرزنده بدنیا آمده است طفل مذکور زماني تولد یافته است که جسد وي رادرگورگذاشته بودند وقصد داشتند وي را زیرخاك نمایند امادر دقایقیکه مردم مشغول تدفین بودند طفل صحتمند ازبدن بیجان تولد یافت.

دميني دم

ملنگيار

ياددميني هردم راسره بي
لکه وينه مي تن کي خوره بي
هرنفس هرقدم مي اسره بي
خيال دعشق ته زمامشوره بي
هرساعت دژوندون په سفردي
هرقدم بي له ميني خطردي
ستاله ميني ښکاره داخبردي
دعاشق دنظرهنداره بي
دسيني په چمن کي مي نازکري
نغمي جوري دميني آغازکري
مايه يادالفت سرفرازکري
دسيني دحاصل ثمره بي
دبيلتون له تياروديي ويريږم
له دي ويري ساعت نه بيليږم
ستادميني له ياده نازيږم
هرساعت له دبادخاطره بي
انديښني مي راتولي کړه ځانته
پري مي نردي بدحال دهجران ته
ومي گوره دي خيري گريوان ته
ميني تل دغمونو چاره بي
دوباره خپل مقام له مي بوزه
بم پريوتي دحسن له روزه
ملنگيارپه ژراله دي سوزه
عشقه خيال ته زمانتداره بي

روزگاران

استادآئينه

رفت آنزمان که طور ، بديگرطرازبود
درهابروي مردم آزاده بازبود
اندرخم وشکنج ونهادگذشته ها
افسانه حيات چه رنجي درازبود
يك کوهسارناله ويك آبشاراشك
يادتهي وخاطره اي دلگدازبود
هربرگ وهرگياه دران گلزمين عشق
زيبا وذوق پروروعاشق نوازبود
ياد آنشبي که سنبل مويش بهارداشت
ياد آندمي که نرگس مستش به نازبود
تارسخن به زخمهٔ ناآشناگسست
قول وغزل کرانه اي بي سوزوسازبود
بامدعي بگوي که مارا بما گذار
شدآنکه همرهان طريق اهل رازبود
حيرت دميد بسکه زطرح نووکين
تعبيرحق در" آئينه " رنگ مجازبود

قضاوت به تاريخ کړي

محمدظريف نقشبند

که گوابنونه دښمنان کړي نه داريږم
مشوري که عمازان کړي نه داريږم
سازشونه داغيارونه منم زه
دره کي که غليمان کړي نه داريږم
داصيل انقلاب خط تعقيبوم زه
بي هدفه که بهتان کړي نه داريږم
په تهديد به تويك کوز داوري نکرم
شرق اوغرب که نن پيمان کړي نه داريږم
دجهادپه قوت حق دملت غوارم
دندوري که غلامان کړي نه داريږم
معاملي په گران وطن چاسره نکرم
دلالي که دلالان کړي نه داريږم
قضاوت به بيا تاريخ اوداملت کړي
صفيهان که بدگمان کړي نه داريږم
ترڅوجورچي اسلامي حکومت نشي
فريبونه که غربيان کړي نه داريږم
چي نجيب نشي تسکورجنگ به روان وي
نقشبند تاسوته اعلان کړي نه داريږم

معرج همت

سيديعقوب فاروق «طالع»

اي مسلمين ! مايهٔ عزت شهادت است
محکم ترين پايهٔ رفعت شهادت است
درنزدکردگارتوانا ودادگر
نيکوترين وسيله قربت شهادت است
جان عزيز دربدلش بي بها بود
قيمت ترين گونهٔ نعمت شهادت است
درکارزارعشق که مقصد رضاي اوست
آسان ترين راه سعادت شهادت است
قومي کمربست براه خدا بجنگ
فوز وفتوح وغايهٔ غيرت شهادت است
نسل غيورتابع دشمن نمي شود
داني يقين عامل عصمت شهادت است
اسلاف ماکه حامي دين ووطن بُدند
تاريخ شان ببين که مايه نصرت شهادت است
جان داده وجهادبميراث مانده اند
ارزنده ترمتاع شهامت شهادت است
صدهاهزار ازصف مردان بخون طپيد
بالاترين معرج همت شهادت است
اين اشك وخون پاك بود سرنوشت ساز
ازجنگ خصم ناجي ملت شهادت است
بايدکه يادگارشهيدان عزيزداشت
ازبهرآنکه لايق حرمت شهادتست
صدساله زهد يکسو ويك ساعتي جهاد
ميدان کليد روضهٔ جنت شهادت است
هرکس زجان گذشت به جانانه ميرسد
پاياترين ثروت ودولت شهادت است
"طالع " اگرچه نيستي درسنگرجهاد
مردن بملك هجرت وغربت شهادت است

دتاريخ پاڼه

مبشر

زمزمه دنوي شانته اوښتون وه
سترخوځښت و، پيلامه دسترخلاصون وه
دتاريخ ارتي سيني ته په کراره
اتلواله ، سرښندنه يي مضمون وه
دافق پرلمن پروت دويني رنگ و
نښانه دلوي ناتاراودشبخون وه
چانغاړلي وخپل ځان خپلو جاموکي
دچاخوله کي، آخري سلکي ژوندون وه
شوراوځوربورته کيدو له کانوبوټو
ښکته ، پورته ،فضا تولة دجنون وه
وږي بز، اوخپسي دوارونوکاري
هغه ورځ، دامي تري دژوند ون وه
خواسره دغليم نشوه پرماباندي
فيصله دسمي اوغر، دپيوستون وه
دتکبير توده ناره زمادويني
رسوايي دسورپرنگ اودکمون وه

جنگيالي

شيرزمان " کونړي "

دتکبير چغي ئي پورته له سنگرخي
جنگيالي دجنگ ميدان ته برابرخي
اتل وي چي دوسلي موټي ئي تينگ کر
سرښندونکي شي لاجنگ ته دکافرخي
مجاهدوي وطن ژغوري له غداره
په قوي تقوا دسپين کفن په سرخي
ملاتي کلکه وي ترلي تينگ ولاړوي
که په لاره دجها کي ئي ککرخي
مال اوسرئي صدقه شي له غفاره
هرقدم ئي په قدم دخپل سرورخي
دچادوره اودباب پري تاثيرنکه
الجهاد سبيلنادپاك اکبرخي
" کونړي " له داسي رحم نه محروم دي
بيچاره غريب خفه له خپل دلبرخي

درهجران ميهن

ازطبع محمدعزيز فرزان

داغم بود زهجرتواندرجگروطن
بخشيده چون فراق توام چشم تروطن
بودست رشك خلد برين باغ وگلشنت
خوشبو بودنسيم توازمشك تروطن
گلزاروگلستان به اقليم اجنبي
بيتوزند بديده من نيشتروطن
ثلث نفوس ملت افغان قهرمان
درملك غيربوده همه دربدروطن
ازفيرتوپ وريزش بمهاي مرگبار
گلزاروشهرهاي توشد شعله ورروطن
تاقتل عام مردم من آيدم بياد
گردم به بحرغصه وغم غوطه ورروطن
ازقتل عام روس به اين ملت غيور
صدهاهزارطفل شده بي پدروطن
بربادوبود خفته جوانان بخاك وخون
دارم فغان وناله زشب تاسحروطن
فرزان زسوز هجروطن گويد اين سخن
دورازتوزندگاني بود دردسروطن

شکوه عشق

" طارق "

دل ناموس هستي عقده بس رازها دارد
شکوه عشق رانازم خطي بي انتهادارد
چه سازم بادل ساغربدوش محفل ساقي
که ترس از لرزش هم خوردن پيمانه هادارد
اگراين جام خونين تن دمي ازخودبرون آيد
هزاران چشم مخموري بگردش آشنادارد
توواَن بزم شورانگيزمن واين گوشه تنها
کجادانند غيرازعشق که اينجا ادعا دارد
به فتوي صبوري مانده ام بااشك لرزانم
که غم پيمانه ها بارشته تاروفادارد
نيارآمددمي امواج پرآشوبه اين دريا
که اين ره تابه ساحل بيم طوفان بلا دارد

وارسي

غلام محمد " ناخوان "

دوستان ، اي دوستان اي، دوستان
فکرميبايدکنيد درباره زندانيان
چونکه هست زندانيان همسنگروهمکارتان
وارسي بايد کنيد ازحال وازاطفال شان
زانکه باشندي پريشان وضعيف وناتوان
هريکي آنان بسي تکليف زندان ديده اند
جورازدست کمونستان شيطان ديده اند
درد ورنج ومشکلات بس فراوان ديده اند
هرچه ديدندي ازآن ميهن فروشان ديده اند
ميکشيدآن ملحدين ناخن زدست وپاي شان
هرمشاوربُدمثال خرس وحشي چاق چاق
ميزدي زندانيان راپيش پاني وقفاق
بازمستنطق که مي آمدبه کبروطمطراق
آن خبيث هم برق ميدادي و ميزدباشلاق
کرده ام ياد آوري نزد شماکردارشان
اي عزيزان آن گروه خائن وانسان تباه
ازحماقت روس را برخود نموده تکيه گاه
پيرو لينن شده انکارکرده ازخدا(ج)
کشته بس پيرو جوان وطفلکان بي گناه
ثبت تاريخ جهان باشد جنايت هاي شان
شکرالله که کمونست ازجهان بربادشد
زين سبب جمع مسلمانان خوش ودلشادشد
نوکران شوروي باناله وفريادشد
بعضي اززندانيان ازچنگ شان آزادشد
زودترمعلوم بايد ساخت کاروبارشان

اسلام غواړم

" پتنگ " ولسي شاعر

زه اسلام غواړم اسلام غواړم اسلام
آزادي دخپل وطن غواړم دقام
چي آزاداومستقيل مي وطن نه شي
ترهغي به داجنگ نه کړمه تمام
غلامي مي پلارنيکه نه ده منلي
زه به هم دښمن ته ونه کړم سلام
داسلام قانون به تول جاري کومه
تولوم به دکافر دتيگي دام
زورتاريخ دپلارنيکه مي رنگينه دي
مسلمان پري افتخارکړي تل مدام
کافران دي تول دمخي ځان خيرکړي
مومنان دننگ گارونه کړي انجام
دسروويښو په بدل وطن گټمه
دښمنان به رانه و نه کړي آرام
په شرمونو شرميدلي بيرته تللي
په دنيا کي ښکاره شوي دي ناکام
افغانان په دښمن مخامخ وردرومي
ارام نه کړي څو وا نه خلي انتقام
به جگړه کي مرگ اودردته نظرنه کړي
شهادت له خداي نه غواړي صبح وشام
دنيکه نه راته پاتي توره او سپردي
حقيقت بيا نوم دامي کلام
دپتنگ شعر دي کنترول تول شاعران کړي
ښکته پورته دي په دي کي وکړي پام

باراسارت

استادنادري

به مردان عهدوپيمان ميتوان کرد
به مردي خويش قربان ميتوان کرد
زآتشپاره هاي کوره دل
جهاني را درخشان ميتوان کرد
زسيل اشك چشم گريه آلود
چونوح صدبار طوفان ميتوان کرد
زسوزسينه وآه جگر سوز
شراراندرنيستان ميتوان کرد
توان چوگان کني ازاستخوانم
سرخود گوي ميدان ميتوان کرد
به عزم راسخ وتصميم قاطع
عدوراخانه ويران ميتوان کرد
قسم اين مادر پاك وطن را
بسي بهترزرضوان ميتوان کرد
وليکن " نادري" باراسارت
تحمل کي چوحيران ميتوان کرد

کاخ سعادت

محمدآصف پيام قرملي

خلق خوش وخوي نيك ، چون گهربربهاست
آدم بدخوورزشت، آفت وديو وبلاست
ميل بدين هرکه داشت ، مايل دنيا نگشت
آنکه قناعت گزيد، اهل دل وپارساست
ميشود ازحرص وآز، کاخ سعادت خراب
نحس وپليدست نفس، حرص وهوس اژدهاست
بردهن ديونفس، هرکه لگام افگند
درصف پيکارنيز،مردجهادوغزاست
حمله کفاربود، گرچه بسي دردناك
برسرچوکي نزاع، بدترازين ماجراست
همچوکسان ميکنند، وحدت ماراخراب
ميل وتلاش مقام ، زادهٔ نفس وهواست
ازستم روزگاروزاثراين نفاق
برهمه کس آشکار، حال پريشان ماست
بهررضاي خدا خدمت مردم کنيد
ميل به جاه ومقام ، عادت اهل رياست

تنگ نظر هاي عقب مانده

طنز .

ميربهاوالدين "تالقاني"

ازميبن جماعت به مقصد " نوي اده " سوارموترشدم . خنده هاي پيهم وبلند دوجوان ازعقب موتر، توجهم رابخوه جلب نمود. آنها ملبس به جمپروپتلون کوباي بوده ، ريشهاي شان تراشيده وموبهاي پشت سرشان به قدري آويخته بودکه ازخانمهاي سرلج که مشغول خدمت درموسسات خيريه پشاور هستند، کمترتميزمي شدند .

تصوورکردم که شايد اين آقايان مست وشيك پوش ازغيرافغانهايي باشند که تازه به تقليد ازرسم ورواج فرنگ خوي گرفته اند . درهمين لحظه نگران موتر باصداي بلندگفت : " کرايه راوالي "!

يکي ازدوجوان پول کرايه راپرداخت ونگران برطبق معمول پرسيد " چيرته ځي "؟ جوان جواب داد که: " صدرمي ربم " . وقتي فهميدم که آنان مهاجرند، بيشتر متوجه ايشان گرديدم که يکي طرف ديگري گفت :" ده امي دوسه ماه ده پشاور زاره ترق وديوانه شديم .

خوبازام امي بازارصدروباغ ناران حيات آبادچندان بدنيست ! يك اندازه خمارآدم ميده ميشه " .

جوان ديگر، آهي کشيده گفت :" ولا ... هرديگرکي ده صدرچکرميزنم . خوده ايجه دخترهاي مظلوم افغاني همگي

ازترس، يك خلته سياه کلانه ده سرهاي شان کش کده به صدرميابن که غيرچشم چراني ويگان شانه زدن ، ديگه هيچ چيزي نميشه ! يادکابل جان بخير، کتي باغ بالاوپارك شارنوش که چقه بي خاري بود!

جوان اولي ، علاوه کرد :" راستي ، يادامورزوز هابخير !! اگه قيمتي ، مفلسي وغم عسکري بود، خوتنگ نظري نبود ! آدم ده عشق وجواني ويگان گلپت آزادبود؛ کسي ره به کسي کارنبود. ده ايجه اگرده ارباب رود ، شاهين تاون وبورد ، يك چارتادکان ويديو پاکلپ بلباره است ؛ ازدست اي تنگ نظرها، آدم ساعت تيري کرده نمي تانه " !

جوان دومي :" راست ميگي . اوروز ده بورد، ظالماي تنگ نظر که نام شان محصل هم بود، محصل خوروشنفکرومترقي ميباشه ! امي کهنه فکرهاي قرن (۱۲) !! سردکانهاوکلپ هاي بلبارد حمله کدن وهرچي يافتن شکستاندن ! ولا ، اين زورپليس سرشان نرسيد . مه اجل گرفته اموخت ده يکدکان ويديو، فلم رقص اروپايي ره ميديدم که اي بي انصافا رسيدن . مام اموتو خوده ربودادم وازمابين شان گريختم که تاکالج باغ پشت خورده سيل تکدم !

اگه ني يك چوب ده پس گردنم خورده بودم ! خوسرازوهم ، نزديك بود پتلونم پاره شوه وبيباب شوم "!

رفيق ديگرش با اضطرابي که گويي همين حالا کسي اورا تعقيب مينمايد، گفت : " خوب شدخبرم کدي که فکرمه بگيرم ! اگه ني هرروز تاچاشت ده کلپ بلبارد شاهين تاون هستم . خوب بوردوباخت ميشه ! روزي نيست که چارصدوپنجصد کلدارماتاوبالاتشه ! خواي تنگ نظرا، ولاکه ده اميجه هم اگريشت ماره ايلاکان ! اوروز سربورد حمله کدن، ام دفعه نوبت ارباب رود وشاهين تاون است "! درهمين موقع صداي نگران بلندشدکه : "صدروالا کوزشي، ترنونبه تورستاپ نشته "!

هردوجوان بازست وفوروم غربي ازموترپايين آمده ، به سوي ازدحام جاده هاي صدر، درکنارهمديگر بحرکت افتادند .

داپيري داسلام دبري اومجدپيري ده ان شاءالله اسلام به خپل عظمت يوځل بيا اعاده كوي

ددلوي دمياشتي په ۲۵ مه نيټه دحزب اسلامي افغانستان مجاهدامير ورورحكمتيار دحزب اسلامي مربوط دگڼ شمير ليسو، مدرسو اوپوهنځيومحصلينتو اوزده كوونكو ته يوه لارښوونكي ويناواوروله چي دادي بشپړمتن يې خپروو .

(اداره)

ورورحكمتيار دلوي خداي ج له حمداوثنا وروسته وويل :

زماوروڼو ! موږ غوښتل چي دمدرسو دطلبه وو متعلمينو اومحصلينتو سره يوه مفصله غونډه ولرو، دحالاتو په هكله دوي سره خبري وكړو ددوي داحساساتو اوجذباتونه خبرشو اوكه له دوي سره دي درواتو جرياناتوپه هكله څه سوالونه ياتشويشونه وي دهغه دحل اودرفعي

موږبايدسره اوسه په يو موقت اسلامي حكومت توافق وكړو چي دنجيب دحكومت ځاي ونيسي اوولس مطمئن شي چي وروسته به دقدرت په سر جنجال نه راځي .

كوشش وكړو، لله الحمد دادي گڼ شمير ځوان طلبه اومحصلين چي ددي جهادپه غيږكي سترشوي او هريوئي شايد ديوشهيد پلارزوي اوياديوشهيد ورورووي، هغوي له كومي ورځي چي پيداشوي بياچي ځواني ته رسيدلي دښه او ديدتفكيك كولي شي نومسلسل ئي دجهاداودهجرت اودشهادت خبري اوريدلي كومو ته چي موږ ډيرامېدلرو داځكه چي دافغانستان اسلامي تحريك ستاسو په شان دمحدود شمير باايمانه ځوانانو په لاس پيل شو .

هغوي دايمان په وسله سمبال وو، په الله (ج) يې پوره اعتماد اوتوكل و، الله (ج) ئي ځان ته كافي گڼلو، دخپل هدف دتحقق له پاره په افغانستان كي داسلامي حكومت دجوړولو له پاره هغوي ملاوتړله ، دقلم اوكتابچي نه پرته بې بل څه نه درلودل شميرئي محدودو له الله سره اويه خپلو مينځونوكي يې په دي خبره تعهدوكړچي خپل ملك كي به داسلام كلمه لوړوي ، درژيم په خلاف به منظم كيږي دفساد اوالحاد مقابله به كوي، په داسي حالت كي هغوي داتحريك پيل كړچي نوروپه دوي پسي استهزاء كوله ، ولس ته ددوي خبره ناآشنا برېښيده حتي ددوي نږدي خپلوانوهم ددوي ملگرتيا نشوي كولي .

خلكو دهغه وخت موجوده حالت داسلام مطابق اودالله (ج) درضا سره سم گڼلو دانقلاب ، تبديلي اوبدلون خبره هغوي ته عجيبه برېښيدله اوگمان ئي كولو چي دادالهي (ج) مقدراتو سره دتصادم خبره ده ، الله (ج) غوښتلي چي همداحالت دي وي چي الله (ج) په دي راضي دي، اودهغه په خلاف څه ويل په دي اجتماع اوحالت كي دتبديلي اودانقلاب خبره كول معني ئي داده چي تاسي دالله (ج) په رضا اودهغه په مقدراتو باندي قانع اوراضي نه ياست . هيڅ چاداسلامي حكومت

ځوانانوتراوسه پوري ددي انقلاب ددفاع په خاطر ډيرسترستر كارونه كړي ،اوقرباني يې وركړيدي .

دجوړېدو تصورنه شو كولي همغه نظام هغوي ته سل په سلوكي اسلامي برېښيدو

داسلام له پاره جهادخلكودغسي گڼلو لكه څوك چي دمري دراژوندي كولو خبره كوي خلكوگمان كولو چي جهاددهغو صحابو كاروو . موږ نه ددي وړيو اونه دالله (ج) په لاره كي جهاد زموږ فريضه ده نوره جهاد وخت تيرشوي دي اوس گويا موږ دآخرت په لوريه مدار، مدار ورنږدي كيږو هره ورځ ترمخكيني نه بدتره ده، همدادالله (ج) رضا ده ، همدي ته بايد تسليم وو، په همدي بايد راضي وو، زموږ كوشش ددي طبيعي اومحتوم مسير دبدلولو له پاره بې حاصله كوشش دي چي هيڅ كله به نتيجه ورنكړي دا عام اومسلط تصوروُ . زه ماپه يادددي چي كله دكابل دپوهنتون په صحن كي به موږ واره ، واره اجتماعات درلودل محدود كسان به راغونډ شوي وو اودغسي شنه بيرغونه به مراوچت كړي وو چي كله به كمونستان او غربي مشربه عناصرله خپل عجيب شكل له بيرووبيتنانو، له اووډوبرېتانواودغربي تهذيب له تقليدنه مست په غرور اوتكبر سره زموږ له خواته تيريدل په موږ پسي به يې تمسخركولو، ځينو به زموږ په حال تاسف كولو اوويل به ئي چي اوس دامحدودوكسان په دغه شلمه پيري كي غواړي چي په دي ملك كي انقلاب راشي هغوي داسلام په لاره كي دجهاد اوداسلامي انقلاب خبره كوي .

داخوبريږدي چي په پوهنتون كي اويه علمي موسساتوكي حالت دغسي وو چاداسلام خبره نشوكولي زماپه يادددي چي زه كله داطراف ته پوهنتون ته راتلم هلته بوروخ زمادبوپرچمي سره مناقشه وه دمناقشي په جريان كي چي هغه كله بې دليله شو ځان سره ئي څه نه درلودل خاموش اوساكت شوماته ئي وويل چي كله پوهنتون ته راشي نوهلته به پخپله دازاړه افكارپريږدي اوله موږسره داويره وه چي پوهنتون ته ځونوهلته به لمونځ څنگه كوو اوچي څوك زموږ په لمانځه كي تمسخر اواستهزا كوي څنگه به ددي تحمل كوو په پوهنتون كي چاملي لباس نه شو اغوستلي، دادشرم اوډيبغوروخبره وه . داپه اصطلاح ارتجاع وه داخو پريږده زماپه يادددي دداودپه وخت كي چي كله له زندان نه ووتلم كورته لارم بوورخ زمادكورني تول غړي پلار، مور، خوېندي ، وروڼه اوځامنو، څه چي دوتول راغونډ شول اوله ماته ئي دهمدي تپوس كولو چي ستاسو له دي كارنه څه هدف دي . له دي نه څه توقع اوانتظار لري مگرپه اسلام بواځي تاسي پوهيږي پيران علما ساكت اوخاموش دي اويه وضع راضي اوتاسوغواړي چي داسلام كلمه اوچته كړي اواسلامي انقلاب راولي نوماچي كله دهغوي خبري ردكړي نو ماته ئي همداويلي دي چي موږ مه تباه كوه اويبا له موږ نه لار شه زموږكوربربېده ماته ئي همدغه ځواب راكړماوويل چي زه دي ته تياريم چي كوربربېدم اودالارچي ماانتخاب كړي ددي پريښودوته تيارنه يم له ماسره خپل پلارهلته توافق كړي چي زندان كي وو اولنده موده بعدپه شهادت ورسيده نوهلته ئي ماته داپيغام لېږلي چي زه مخكي دده دمبارزي سره مخالف وم خواوس ورته دعاكوم ، اوس ورسره موافق يم زندان كي هغه له ماسره موافقه كړيده ، دايواځي څما حال نه وو، داكثروهغو ورونو چي داتحريك ئي په ابتداكي پيل كړي همداحالت وو، هريو حتي په خپلو كورنيو اوټبركي هم دمخالفت سره مخامخ وو، شايد زموږ دهغو ورونو شمير ډيرمحدودوي چي په ابتداكي ئي دالارشروع كړي اوپلارمور اوكورني ئي ورسره موافقه كړي وي دهغوي شمير ډير محدود دي اكثرحتي په خپل كورني اوقاميل كي هم دمخالفت سره مخامخ وو تاسو خوخوشبخت ياست ، تاسو اكثريه داسي كورنيو كي روزل شوي ياست چي هجرت ئي كړي . دالله (ج) په لاره كي ئي جهادونه كړي . په دي لاره كي ستونزي اوكړاوونه گاللي ، په شهادت رسيدلي زندانونوته تللي ، تاسي ددغسي موراوپلاريه غيږكي اوددغسي كورنيو په غيږكي روزل شوي ياستي ، تاسوئي تشويق كړي ياست اوتاسوته يې همدغه روحيه اوذهنيت دركړي ولي دتحريك دشروع كيدو په لمړيو شپواوورځوكي چي زموږ هغه ورونو له كوموشكلاتو سره مخامخ وو تاسودهغه تصورنه شي كولي، زه په دي عقيده يم چي دتولي دنيا مخالفت بوطرف ته اوپه كورني كي دخپلو خپلوانومخالفت بل طرفه ته . شايد انسان دتولي دنيا دمخالفت په وړاندي صبروكولي شي خوډيرشايد داسي وي چي په خپلو كورنيو كي دخپلو، خپلوانومخالفت په وړاندي صبرونشي كړي ، همداوجه ده چي قرآن عظيم الشان دكړاوونو اودابتلاتاتودلست په سركي دپلاراومورمخالفت اوعدم توافق ترټولو لويه ابتلاً بولي .

داجهادپه دغسي حالت كي پيل شوي خودهغوباايمانه ځوانانو په لاس چي په اخلاص سره دالله (ج) په لاره كي يې قدم اوچت كړ، دهغوي اكثريه شهادت ورسيدل. په سلو كي پنځه نوي دهغوي په شهادت رسيدلي. يادسته جمعي طوريه زندانونوكي، دتره كي په وخت كي ، دداود په وخت كي له هغه نه بعدلو پاهم په سنگرونوكي. خودادالله (ج) سنت دي چي دحق په لاره كي هلي ځلي نه ضايع كوي هغه دحق دلاري دمجاهدينو ملاتړاوتائيد كوي، هغه ئي مدافع دي ، هغه ئي نصيردي ، خيرالناصرين خداي (ج) خپل معيت دهغوي په حال شامل وي ، خلك دهغوي په ماحول راغونډېږي، دخلكوزړونوكي ددوي مينه اومحبت راپيداكوي ، ددوي اهداف ترسره كوي، ددوي دښمنان دذلت اوشكست سره مخامخ كوي . دادي نن موږ ددي خبري شاهديو چي دافغان ولس اكثريت دهغو ځوانانو په لار روان دي .

كه ددوي په شهادت رسيدلي اهداف ئي ترسره شوي . دروس لويه امپراطوري ختمه شوه ، دكرملين له منارونه سوربيرغ راكوزشو ، آخري رئيس جمهورئي استعفاته مجبورشو ، نوره سره امپراطوري دتاريخ جزوگرځيده ، په پنځه لس توتو وويشلي شوه اودهغوي ترمينځ دادي گوري چي مسلحانه كشمكش هره ورځ روان دي . دادي ددغوشهداووبيرغ په سلهاوو زره هغو ځوانانو په لاسونو اوچت دي چي داسلامي تحريك په ليكو كي دخپلو شهيدو ورونو خالي ځاي ډك كړي، دهغوي شعارونه دافغانستان په گوټ، گوټ كي زمزمه كيږي نن اسلامي حكومت داسلام په لاره كي جهاد،دخداي (ج) په لاره كي شهادت دادفرد، فرد شعار گرځيدلي . په دي كي چي دماشومانو نه هم تپوس وكړي هغه به دي پوهيږي چي زماملك دشهداوملك دي اودلته بايد اسلام حكومت وكړي ، هغه داسلامي حكومت خبره كوي، چي مخكي زموږ رهبرانو اومشرانو ددي تصورنه شو كولي ، نن دماشوم شعارهم همدغه دي، داسلام كلمه اوچتول اواسلامي حكومت قايمول ، دادي دملك نه بهر دهجرت په محيط كي زموږ په لكونو طلبه ځوانان دمجاهدينو په لاس په جوړشوو مدرسو كي درس وايي په دغه اجتماع كي په زرگونو كسان راغونډ شوي اودهغوي دځلانده څيرونه دهغوي متين عزم اوراسخه اراده ځرگنده ده ، دهريوشعار دادي چي زماملك به آزادېږي اوهلته به دمجاهدينو په لاس اسلامي حكومت قائميږي ، موږ دغه نوي نسل ته ډير اميدونه لرو، هغه نسل چي دانقلاب په غيږكي پيداشوي اوروزل شوي اويه دغه اوږده موده كي-له هغي ورځي چي دي په خبري پوه شوي ترنن پوري هغه كه اوريدلي نودجهاد، شهادت اسلامي خلافت ، په الله (ج) توكل، دالله (ج) په لاره كي صبر، داخبري ئي اوريدلي دغوشعارونو سره سترشوي، داشعارونه اوس دهغه په وينو كي خوځيږي اودهغه دزړه په سلول ، سلول كي يې ځاي نيولي، ان شاء الله ددغوباايمانو دانقلاب په غيږكي دسترشوو ځوانانوپه لاس به ترددي نه هم ستر،ستركارونه ترسره كيږي . زموږ دا اميددي اوله الله (ج) نه موداغوښتنه ده اودامودعاده چي زموږ ددغوشازلميانو په لاس الله (ج) ترددي نه هم ستر، ستر كارونه ترسره كړي .

ورونو ! داسلام اودمسلمانانو يولوي اوستردښمن ستاسو دشهداوو ورونو دقربانيو په نتيجه كي ختم شو، راځي تاسي داسلام دبل ستردښمن دختمولو له پاره ملاوتړي . داكارمستحيل مه گڼي . چاچي دلويو كارونواراده وكړه ، په لوي خداي (ج) ئي ايمان وي، الله (ج) ځان ته كافي گڼي قديرخداي (ج) به دهغه په لاس ستر،ستركارونه ترسره كوي، داداانسان په ارادي اوعزم پوري مربوط دي ، غواړي خپل طاقتونه اواستعدادونه په منحطو ورو ، ورواهدافو كي ضايع كړي اوكه ستر، ستر اهداف ځان ته ټاكي، كه سترارادې ستره وه اواهداف دي اوچت وو اوددغواهدافو، دتحقق اراده درسروه، اواحساس دضعف دي ونه كړالله (ج) دي ځان ته كافي وگڼلو ، شعاردي همداووچي خداي (ج) ستردي اودټولي هستي مالك نوالله (ج) به ستاپه لاس لوي لوي كارونه ، ترسره كوي خوكه تااحساس دضعف اوحقارت وكړ، ورو، ورو منحطواهدافو سره مصروف شوي نوبيا به دي په همدغو اهدافو كي قوتونه اواستعدادونه ضايع كيږي . راځي ځان ته اوچت، اوچت اهداف وټاكو ددي ته

داسلام اومسلمانانو يولوي اوستر دښمن شوروي ستاسو دشهد اودقربانيو په نتيجه كي ختم شو ، راځي ،تاسي داسلام دبل ستردښمن (امريكا) دختمولو لپاره ملاوتړي .

احساس دضعف ونكړو چي زموږ په لاس به ان شاء الله اسلامي خلافت جوړيږي زموږ په لاس به زموږ دشهداو ورونو په شان يوبل لوي عالمي طاقت داسلام دښمن طاقت خداي (ج) ختموي .

زه يقين لرم چي كه همدغه شمير ځوانان هم په اخلاص سره تعهدوكړي نوددښمنانو هرسازش به شنډوي اوان شاء الله ددوي په لاس به په افغانستان كي يوواقعي اسلامي حكومت جوړيږي . موږ چي كله داتحريك شروع كولو نوشمير مو ددولس وو . په لمړيو اجتماعاتوكي به زموږ څلويښت ، پنځوس كسان راغونډيدل باووركړي هغه صحني مې په ياد دي اوس مې هم دسترگو مخي ته گرځي چي موږ به همدغسي واره ، واره اجتماعات درلودل څلويښت پنځوس كسان به راغونډېشوي وو اويه يوگوشه كي به يو بيرغ ولاړوو خلك به هم چي زموږ له څنگ نه تيريدل په موږپوري به استهزا اوتمسخر كولو ولي

داسلامي امت له گوټ ، گوټ ولسونو سره همدا آراده ده ، چي داسلامي حكومت دقايمولو لپاره بايد دافغان مجاهدينو لاراختياركړي .

دادي نن الحمدالله بوازي دحزب اسلامي سره دوسوه ديرش زره مسلح مجاهدين دي دادي دحزب اسلامي انتخابات روان دي تقريبا يوملبون اعضا او اركان په دي انتخاباتوكي برخه اخيستي، اركان يعني هغه كسان چي كم له كمه لس كاله ئي په حزب كي تيركړي وي، عضو يعني هغه څوك چي كمه له كمه شپږاوه كاله ئي په حزب كي تيركړي وي ، يوملبون كسان اعضا اواركان په انتخاباتو كي شركت كوي داهغه تحريك وو چي يوه ورځ ددولسو كسانو هغه هم ستاسو په شان ځوانانونه پيل شوي چي دقلم اوكتابچي نه ئي بل څه نه درلودل اودهغوي هم اكثريت لاړل په شهادت ورسيدل له دوولسو نه يوولس په شهادت رسيدلي همغه چي په ابتدائي شپږوورځوكي دهغوي لوي، لوي اجتماعات هم خلويښت پنځوس كسان وو، ولي دادي نن تول ملت دهغوي په څنگ كي ولاړدي .

نن تول ملت دهغوي شعارونه زمزمه كوي، تول ملت خوپريږده تول امت ، نن كه په الجزايركي تحريك روان دي نودنياوال وائي چي داهم دافغان جهادنه متاثره شوي اوداتحريك هغوكسانوپيل كړي چي دافغانستان جهادكي يې برخه اخيستي، په فلسطين كي جنگ دي، كه په فلسطين كي تحريك دي نو دنياوال همداوايي چي دفلسطين مبارزين هم دافغانانو نه متاثرشوي . كه په كشمير كي جنگ دي نوخلك همداوائي چي كشميريان هم دافغان مجاهدينو نه متاثره شول ددوي لاړل په جهادكي ئي شركت وكړ اودافغان مجاهدينو لاره ئي غوره كړي .

غربيان په هغه صورت كي دانتخاباتو اوديموكراسي غوښتنه كوي چي دهغي په نتيجه كي ددوي عمال رامينځته كيداي شي.

نن كه تاسويه هند كي وگورئ كه ددنيا گوټ، گوټ ته لاړشي نودمجاهدينو شعارزمزمه كيږي اوداسلامي امت دگوټ، گوټ ولسونو سره همداآرده ده چي داسلامي حكومت دقائمولو له پاره بايد دافغان مجاهدينو لاراختيار كړي . زه يقين لرم چي كه همدغه شمير كسان هم په اخلاص سره داسلامي حكومت دجوړولو له پاره ملاوتړي داكفايت كوي، ان شاء الله ددوي په لاس به يوواقعي اسلامي حكومت په افغانستان كي جوړيږي .

زما ورونو ! دافغانستان دمستلي دحل په ارتباط ډيلو، بيلو اصنافو خلكو سره بيل ، بيل تصورات دي، ځيني سخت مغشوش دي نه پوهيږي څه وكړي . نه پوهيږي چي څه به كيږي . ځيني هم مايوس دي چي دجهاد له لاري دافغانستان دمستلي حل ممكن نه دي بايد په هرممكن حل قانع شو چي جگړه پاي ته ورسيږي . سوله اوامن په افغانستان كي قائم شي . ځيني گمان كوي چي شايد دمجاهدينو دقربانيو نتائج ضايع شي اويادنوروپه لاس كي پريوزي، داهغه كسان دي چي شايد په دي باور نه لري چي ددي ځمكي اواسمانونو مالك خداي (ج) دي اودلته دهغه اراده حاكمه اونافذه ده ، عاقبت داموروددهغه په اختياركي دي، عملونو ته پاداش هغه وركوي دچاپاداش نه ضايع كوي . ممكن نه دي چي دي كومه قطره وينه دهغه په لاركي توبي شي اوهغه بياضايع شي، دخداي (ج) په وعدوئي باوراويقين نه وي هغه دي چي گمان كوي چي شايد دمجاهدينو قرباني ضايع شي ممكن دانتائج دنوروپه لمنه كي پريوزي اومجاهدين ونشي توانيدلي چي دخپلي خوښي اسلامي حكومت جوړكړي . ځيني دجهاد دنتايجوڅخه مايوس دي اوهمداگمان كوي چي شايد دجهاد له لاري نه دافغانستان قضيه حل نشي .

داهغه خلك دي چي اصلا هغوي په جهادكي برخه نه ده اخيستي پرته له دي نه چي په جهادكي برخه واخلي ستري اوستومانه دي اودمجاهدينو په خلاف همداتبليغات كوي چي دجهاد له لاري دافغانستان مسئله حل نشوه . دجلال آباد اودگرديزمثالونه رااخلي، دخوست مثال نه رااخلي دكترولتحي، دكاپيسا ، پروان ، تخار، ارزگان ، اويامبان مثالونو ته اشاره نه كوي اوداچي په افغانستان كي له سلونه اوه نوي برخي آزادي دي اودمجاهدينو ترتسلط لاندي ، داچي ددوه سوده اتيا ولسواليو نه دوه سوه اوه ځلويښت آزادي دي،دي ته اشاره نه كوي خودجلال آباد اودگرديز نوم يادوي اويه دي باندي استناد كوي اووايي چي دجهاد له لاري دافغانستان مسئله نشي حل كيدلي .

كابل نشي فتح كيدي همداكسان دملل متحد دسرمنشي طرحي ته اميدواردي اوگمان كوي چي په دي ترتيب شايد دافغانستان مسئله حل شي جنگ پاي ته ورسيږي اوددوي دخوښي حكومت په افغانستان كي قائم شي .

موږ مجاهدين چي داجهاد داسي كوو لكه لمونځ . لكه دلمانځه په هكله چي له الله (ج) نه پرته له بل چانه دپاداش طمع نه لرو ، ددنيائي نتائجو په نسبت هم څه اعتنا ، نه لرو، داچي زموږ په لمانځه به څه نتائج په دنيا كي مرتب كيږي هيڅ كله موږ ددي خبري په نسبت فكرنه دي كړي لكه لمونځ چي دغسي كرو دايوه الهي فريضه ده خداي (ج) مكلف كړي يو دافريضه به اداكوو ددي پاداش او اجرهم دالله (ج) په نزدكي خوندي اومصئون دي همدارازجهادكوو جهاد يوه فريضه ده ، الله (ج) مكلف كړي يو ، موږ خپل مال اونفس دخداي (ج) رضا په بدله كي دجنت په بدله كي خرڅ كړي ، الله ج) په دي مكلف كړي يوچي دخپل مال اونفس په قيمت به دهغه په لاره كي جهادكوواوترهغه وخته پوري به جهادته ادامه وركوو چي روح زموږ په وجود كي خوځيږي چي ترڅوژوندي يو، ترقيام دقيامته پوري به داجهاد جاري وي ، ترڅو فتنه پاي ته نه وي رسيدلي اودالله (ج) دين په ټولواډياتونه وي غالب شوي مجاهدين په دي باورلري چي دافغانستان مسئله به انشاء الله دجهاد له لاري حل كيږي . كه په جهاد سره روس ته ماته وركول كيداي شي نودنجيب حكومت پرځول خوډيرآسان دي، دابيله خبره وه چي دالله (ج) همدا اراده وه چي لمړي روس ختم شي اوالله (ج) زموږ دشهداو انتقام له هغي واخلي اويبا كابل دمجاهدينو په لاس فتحه كړي . موږنور هم همدي ته راپلو، موږ هغوته وايوچي راځي يو بل ته لاس وركړو، په دغه مرحله كي موږ څو خبروته ضرورت لرو ، دسازشونو په گډه مقابله وكړو، دجهاد په خلاف چي كومي توطئي او دسايس روان دي ددي دشنډولوله پاره يو بل ته لاس وركړو اوگډ موقف غوره كړو، كه نورڅه نشو كولي كم له كمه خو داكاركولي شو چي دبيل ، بيل بيان صادرولويه ځاي زموږ بيان مشترك وي او وواپوچي ددغو سازشونو په خلاف

دمجاهدينو دريغ يودي اويه گډه دهغه په خلاف ودرېږ و، بيادكابل رژيم دپرزولو له پاره گډاقدام وكړو، خپل قوتونه منسجم كړو، ديو پلان په اساس ترپوي قوماندي لاندي درژيم په خلاف خپل قوتونه سوق كړواو دكابل رژيم له نسكوريدو نه وروسته په يو مؤقت حكومت سرله نن څخه توافق وكړو، داحكومت اوس جوړكړو، اوټول ملت ته داخبره ځرگنده كړو چي درژيم دنسكوريدونه وروسته به داحكومت په كابل كي دهغه ځاي نيسي ترڅوخلك له دي ناحېي نه مشوش نه وي چي دكابل رژيم دنسكوريدونه وروسته به دهغه ځاي څوك نيسي، مباداچي داقتدار په سرهلته مسلح كشمكش پيل نشي اويباداقتدار له پاره وينې توبي نشي ، دخلكو دداداواطمينان له پاره اودهغي خلاددكولو له پاره داتن ، موږ بايد يوحكومت جوړكړو خودا حكومت بايد دكابل له پاره وي نه ديپښورله پاره ،ديپښورله پاره موږ حكومتونه مخكي جوړكړل اوهغه موبوځل وازمويل دهغه نتايج ترخه وو، بيا بايد داغلط اوناكامه تجربه تكرارنكړو .له موقت حكومت وروسته به په كابل كي دانتخاباتوله لاري دائمي اوثابت حكومت جوړېږي په انتخاباتوبايد سرله اوسه توافق وكړو، دجهادپه خلاف چي كوم سازشونه دسياسي حل ترنامه لاندي روان دي په هيڅ صورت ددي نه طمع اوانتظارنه لروچي له دي لاري نه دي دافغانستان بحران اوقضيه حل شي اويبا دي افغان ولس ته ددي موقع وركړي شي چي دخپلي خوښي حكومت جوړكړي دا سازشونه ددي له پاره روان دي چي په افغان ولس باندي ديرديو دخوښي حكومت تحميل شي خوددي سره ، سره موږ بايد داخبره اعلان كړو چي موږ سوله غواړو ، موږ دجنگ دادامي عامل نه يو داجنگ په موږ تحميل شوي اوموږ دجنگ ادامي ته مجبوركړي شوي يو، كه چېرته هم بهرني ملكونه زموږ په داخلي امورو كي مداخلت بندكړي اوموږته ددي اطمينان راكړي چي افغانان به خپل سرنوشت په خپله ټاكي اودغسي يوځل وړاندي شي چي دافغان ولس دغه حق تضمين كړي نوموږ ددغسي حل منلو ته كاملا تياريوخوزموږ له نظره داهدف په هغه صورت كي ترسره كيدي شي چي دنجيب حكومت ختم شي، دهغه ځاي يومؤقت حكومت ونيسي، داسي حكومت

موږپه هغومذاكراتوكي گډون ته تيارنه يوچي په هغه كي ظاهرشاه اوسابقه حكمرانان ديوطرف په حيث برخه واخلي .

چي په هغه كي متنازع فيه شخصيتونه نه وي، زموږ له نظره متنازع فيه شخصيتونه نجيب اودهغه ملگري ظاهرشاه اوسابقه حكمرانان، دسابقه حكمرانانوته زموږ منظوردانه دي چي هرچاپه سابقه حكومتونو كي حتي ماموريت هم كړي وي نوموږ هغه مستثني كوو .

سابقه حكام دهغه رژيم حواريون او درباريان هغه چي سابقه رژيم يوځل بيا اعاده كول غواړي دازموږ له نظره متنازع فيه دي، مجاهدين دي ته تيارنه دي چي په راتلونكي حكومت كي هغوي ومني حتي په دي مؤقته مرحله كي هم دي ته تيارنه دي چي هغوي په حكومت كي قبول كړي ، همدارازموږ وايو رهبران هم تولو ته دمنلو وړنه دي رهبران كه دحكومت كولو شوق لري نوداشوق دي دانتخاباتوله لاري پوره كړي ، هغوي دي ترانتخاباتو پوري انتظار وكړي اوس دي يومؤقت اوعبوري حكومت ددغه شخصيتونو نه جوړشي بيادي اوربند تأمين شي بيادي په افغانستان كي انتخابات ترسره شي

موږ بايد دنيا ته داخبره اعلان كړو چي دملل متحد طرح غيرعملي ده داځكه چي دملل متحد دسرمنشي پنځه فقره ايزه طرح لمړي اوربندته بلنه وركوي، زموږ له نظره دنجيب په موجوديت كي اوددوي دحكومت په موجوديت كي اوربند نشي كيدي ، داوربند ، لمړني او ړومبي شرط دادي چي داحكومت بايدختم شي همدارازداطرح بين الافغاني ديالوگ اومذاكراتوته بلنه وركوي اوهمدي له پاره وائي چي دافغانانو . ۱۵ كسيزه جرگه بايد په بواروپائي ملك كي دائره شي اويبادبين الافغاني مذاكراتوله لاري دي يو عبوري حكومت جوړكړي .

موږ په هغه مذاكراتوكي شركت ته تيارنه يوچي ظاهرشاه اوسابقه حكمرانان ديوطرف په حيث په هغه كي برخه واخلي، په دي خاطرداماكرات غيرعملي دي،* دامتخاصمي ولي ديوبل مخي ته دمذاكراتوله پاره كېنول داغيرعملي كاردي، نه بايد په دي باندي خپل وخت ضايع كړو، همدارازهغوي ددغومذاكراتوله لاري يوائتلافي اومختلط حكومت جوړول غواړي . موږ وايو داغيرعملي دي ددي امكان نشته چي دا متخاصمي ولي دي په يوه اداره اويه يوحكومت كي برخه واخلي ، وزارتونه دي په هغوي وويشلي شي ددي امكان نشته موږ ددي له پاره جهادنه دي كړي چي نجيب څو وزارتونه له موږ سره شريك كړي اويه دي ترتيب يوائتلافي حكومت جوړشي، همدارازهغوي لويه جرگه غواړي، موږ وايويه نوروملكونوكي تاسو دانتخاباتو خبره كوي اودلته په افغانستان كي وايي چي دافغانانو دعنعناتوسره سم دي لويه جرگه دايره شي كومه لويه جرگه ؟ اصلا خويه افغانستان كي دلويي جرگي په نامه كومه جرگه يااداره نشته داسي جرگه چي غړي ئي ځرگندوي اوهغه متفق عليه شخصيتونه وي . موږ خودغسي جرگه نه لرو تاسو ولي دانتخاباتوخبره نه كوي، ددي وجه ځرگنده ده . هغوي پوهيږي چي كه په افغانستان كي انتخابات وشول نودالجزاير تجربه به تكراريږي .

دوي خوبه هغه صورت كي انتخابات غواړي چي دديموكراسي اودانتخاباتوله لاري ددوي عمال اوددوي دخوښي ولي راوړاندي شي اواقتدارهغوي ته وسپارلي شي اماكه چيرته وگوري چي دانتخاباتوله لاري اسلامي حكومت جوړيږي بيادهغه په خلاف كودتاگاني هم تائيدوي ، دادي دالجزاير جريانات په خپله ددي خبري شاهددي امريكايه الجزايركي ديوځ كودتاتائيدوي دملت په سلو كي اتيا اسلامي نجات جبهي ته رايه وركړي خوامريكا ددغه انتخاباتو دنتايجو دلغو كولو له پاره ديوځ كودتاتائيدوي اودهغه ملاتړ كوي، رسما په دي باندي شرمېږي هم نه ، دخپل رسمي بيان له لاري ديوځ اقدام دانتخاباتو دنتايجو دالغا له پاره تائيدوي اودهغه ملاتړكوي .

هغوي پوهيږي چي افغانان څه غواړي، په دي پوهيږي چي افغان ولس يونيم مليون شهيدان داسلامي حكومت له پاره وركړي . كه افغان ولس ته ددي موقع وركړي شي چي هغه دخپلي خوښي حكومت جوړكړي نوهغه به اسلامي حكومت جوړوي هغه داسلامي حكومت نه په كم شي نه راضي كيږي .

(۷)مخ

ظاهرشاه حامي كمونيزم ،عامل

واستمرار حكومت احتمالي ان به افغانستان ،ذهنيت پذيرش مردم براي رژيم هاي شاهي در منطقه آماده خواهد شد واين امر به ضرر جمهوري اسلامي ايرا ن است . بنابراين منافع انقلاب اسلامي وملي در ايران حكم ميكند كه بايد ايران با بازگشت ظاهرشاه بمخالفت برخيزد . واين همان چيزي است كه درگذشته موجود بوده ودر آينده نيز در يران وجود خواهد داشت .

نتيجه گيري : باآنچه ازخيانت ها وجنايات واعمال ضداسلامي ظاهرشاه دردورانهاي قبل وبعدازسلطنت اوبرشمرديم وبا درنظر داشت موانع عمده يي كه برسر راه بازگشت مجدداو بقدرت وجود دارد ، به وضاحت پيداست كه پس از سرنگوني رژيم نجيب وخاتمه حكومت كمونيست ها ، ايجاد واستقرار حكومت اسلامي مطابق خواست وآراي مردم مسلمان افغانستان با اشتراك چنين چهره خائن وستمگر وغير اسلامي هرگز دركشور ما امكان پذيرينظر نميرسد.

هما نطوريكه ميبينيم تجاوزگران روس وجنايتكاران امريكا يي همواره درمحاسبات سياسي ونظامي شان قدرت شكست ناپذيري اسلام را ناديده مي گيرند وظاهر شاه نيز با تاثير پذيري از همين موضوع درعوض درخواست عفو ، به نسبت گناهان گذشته اش ، ازملت ومرهم نهادن بر روي زخم هاي آنان ،هرزمانيكه يادارانش دستور داده اند ازپشت با توطيه هاي گوناگون به ملت ما خنجرزده است . با توجه به اين دوساله وعلى‌رغم آنكه اينروز ها با ز هم مشاهده ميكنيم كه ظاهر شا ، با كمال وقاحت وپررويي آماده كي خود را جهت خدمت گذاري به روسها و امريكايي ها اعلام كرده است ، ولي استكبار جهاني وسازمان ملل با يداز گذشته هاي ننگين ظاهر شاه وشكست هاي مفتضحانه ارتش اشغالگر سرخ وحكومت هاي دست نشانده آن در برابر نيرو ي ايمان اسلامي مجاهدان مسلمان افغانستان در طول چهارده سال گذشته درس عبرت گرفته باشد .

در غير اينصورت ظاهر شاه كه حتي يك گلوله هم بخاطر جلوگيري از سقوط سلطنت وي ويه طرفداري از او شليك نگرديده است ،. مطمئنا" سرنوشت بهتر از داود وتره كي وامين وببرك ونجيب نخواهدداشت.

ما مطمئنيم كه ملت مسلمان وانقلابي افغانستان از مساله خطر بازگشت ظاهر شاه بوسيله استكبار جهاني غافل نيستند . ماااطمينان داريم كه بخواست خداوند بزرگ مبارزه برحق و پيگير ملت مسلمان وقهرمان افغان تانابودي كامل ستم وتجاوز وطرد هميشگي كمونيزم و الحاداز كشور واستقرار حكومت عدل اسلامي در سرزمين بخون نشسته افغانستان عليه كافران روسي وامريكايي عمال دست نشانده آنها همچنان ادامه خواهد يافت

داپیري داسلام دبري اومجدپیري ده

هغه په مجاهدوشخصيتونوته رايه ورکوي چي په هغوئي باوراواعتماد وي چي داسلمانانوته مخلص دي اواسلامي حکومت جوړولاي شي، ددي له پاره هغوي دانتخاباتو په ځاي دلويي جرګي خبره کوي . زمونږ دښمنان خوددي خبري حق لري چي هغه دانتخاباتونه ووېرېږي ، ځکه پوهيږي چي افغان ولس اوس بيداره شوي اوهغه اسلامي حکومت غواړي، داسلامي حکومت له پاره هغه داټولي قرباني ورکړي خومتاسفانه زموږ له دوستانونه هم ځيني کسان داسي دي چي دانتخاباتونه ويره لري زه هغوي ته وايم چي له خپل ولس نه مه ويريږي دغه ولس چي داسلام له پاره ئي ديوه ۱۴ کلن جهاد ټولي ستونزي اوکړاوونه په صبرسره وزغمل اودډيرمن سازشونوته ، فشارونوته تسليم نشول له دي نه ويره مه لري افغان ولس اوس اسلامي حکومت غواړي اوله اسلامي حکومت نه پرته په بل څه نه راضي کيږي خوکله هم هغه ته دخپلي خوښي دزعامت دانتخابات حق ورکړي شونوهغه به صالح اوباايمانه قيادت ته خپله رايه ورکوي . که تاسي له دي نه ويريږي چي مباداانتخاباتو له لاري دوکه مارټيګ مارخلک راوړاندي نه شي ددي لارددانه ده چي موږ انتخابات تحريم کړو اودانتخاباتو په خلاف تبليغات وکړوچي دنيا موږپه دي متهم کړي چي هغوي دخپل قوم رايي ته ويريږي ، هغوي په خپل ولس اعتمادنه لري، دوي هم دنجيب په شان غواړي چي له بهرنه په زوردخپلي خوښي حکومت په افغان ولس تحميل کړي، لارئي داده چي موږ دانتخاباتوله پاره دغسي طريقه وضع کړو چي ناصالح کسان ونشي توانيدي دشوري عضويت ترلاسه کړي، باناصالح شخصيتونه ونشي توانيدلي اقتدارته ورسيږي داډيره آسانه ده ، ددي مختلفي لاري دي، کيدي شي موږهغوي ته ويلي چي يوه طريقه ئي داده چي په انتخاباتوکي دي احزاب کانديدوي اوولس دي احزابوته اوهغوي دکانديدانو لست ته په مجموعي طوررايه ورکړي ، هرتنظيم دخپلو کانديدانو لست اعلانوي اوپه ټول افغانستان کي مجموعي طورهرڅوك دغه حزب ته اودهغه مجموعي لست ته رايه ورکوي مشخص کانديدته نه ، دلستونو

دجوړولو په وخت کي بايد ددي خبري خيال وشي چي ناصالح خلك نه وي کانديد، اهل رايي اهل حل اوعقد کانديدشي بيادغولستونونه دهرتنظيم هومره کسان شوري ته لاړشي چي دهغه دلاس ته راوړلو آراووسره متناسب وي، دمثال په طورکه چاپولك رايي ترلاسه کړي وي اودهرولسو زرو رايو مقابل کي يوکس شوري ته ځي اوهغه دپنځوسوکسانوکانديدانو لست ورکړي دي ، نوهغه به ددغو پنځوسوکسانو لمړني لس کسان شورئ ته معرفي کوي باقي دي پاته وي، په دي ترتيب هم دولس نه پوښتنه وشوه اوهم موږپه شوري کي اهل حل اوعقد دغړويه حيث ليږلي شو اوناصالحو کسانو دنفوذ مخنيوي کيدلي شي .

موږورونوته وايوپه دي ترتيب نشي کيدلي چي دملك نه بهريه څوك يو حکومت جوړوي بيابه داثابت اوداېمي حکومت وي، له ولس نه دتپوس نه پرته ، داګران دي، دافغان ولس ټول اقشار په دي قانع کول ممکن نه دي، هرقوم اوقبيله ، هره طبقه ، ګروه اوطائفه ځان ته دحق غوښتنه کوي، له بهرنه هم دغسي ملکونه چي قومي، ملي، ژبني اومذهبي تعصباتوته لمن وهي يوه ته وائي ته په افغانستان کي ديرش په سلوکي ئي ترڅوچي په حکومت کي ديرش په سلوکي وزارتونه اوپه پارلمان کي ديرش په سلوکي چوکي تاته نه وي سپارل شوي ستاپه حق تيري شوي ته دخپلو مسلمو حقوقونه محروم شوي ئي زه ستاپشتيبان يم اوستاحمايت کوم درژيم په خلاف ستادحق دوصول دتحريك اودمبارزي ملاتړکوم په دي ترتيب په هغه ددي موقع ترلاسه کوي چي په افغانستان کي دتجزيي ، تحريك تقويه کړي، بل دژبي په بنياد تعصباتوته لمن وهي اوهغوي ته همدغه وايي چي فلاني قوم دفلاني ژبي خاوندان په افغانستان کي څلويښت په سلوکي دي پنځوس په سلوکي دي، په کاردي چي په حکومت کي هغوي ته پنځوس په سلوکي وزارتونه وسپارلي شي، په پارلمان کي هغوي پنځوس په سلوکي چوکي ولري که داکارونشودهغوي په حق ظلم شوي اوداوهغه ملك په سينه ورته،لاس وهي اوهغه تحريکوي چي ته محروم ئي، مظلوم

ئي، په دي اجتماع کي ستاپه حق تيري شوي، دخپل حق د استرداد له پاره بايد ملاوتړي اوزه دي ترشاولاړيم . اوکه موږ دملت رايي ته رجوع وکړو په داسي حال کي چي دناصالحو کسانو درامخ ته کيدو مخنيوي موکړي وي هيڅ څوك به نشي توانيدلي چي يوي قبيلي اوطائفي ته داخبره وکړي چي ستاپه حق ظلم شوي ، ته محروم اومظلوم ئي زه ستاملاتړکوم هيڅوك به ددي موقع په لاس نه ورځي چي قومي، منطقوي ، ژبني اومذهبي تعصباتوته لمن ووهي اوزموږ ملي وحدت ختم کړي، افغانستان په شمال ، جنوب په شيعه اوسني، تاجك اوپښتون باندي وويشي ، دهمدي له پاره دي چي موږ وايو انتخابات ضروري دي موږ بايد همدغه خبره دنياته اعلان کړو. همدغه طريقه چي موږ اعلانوو اوس ددنيا په ګڼ شمير ملکونو کي معمول ده دا شاذاونادره طريقه نه ده ددنيا ګڼ شمير ملکونه چي دغسي دانتخاباتو تجارب ئي تيرکړي بالاخره دي نتيجي ته رسيدلي چي ترټولو معقوله طريقه دانتخاباتو ده زموږ پيشنهاد ورونوته همدغه دي چي راځئ کم له کمه په دغوڅلوروخبرو خپلو مينځونوکي توافق وکړو چي هغه مشترك موقف دسازشونو په خلاف، ګډ اقدام دژيم دپرزولو له پاره ، مؤقت حکومت په کابل کي درژيم دنسکوريدو پسي اوبيا انتخابات اوثابت اومنتخب اسلامي حکومت جوړول .

زماورونو ! ددي سازشونو اوتوطيومقابله اوددي اسلامي انقلاب داصالت نه داپاسداري په دي هکله دځوانانو ډير سترمسئوليت دي، دوي ددي لوي انقلاب چي ديونيم مليون شهداو دوينو محصول دي واقعي وارثان دي ، داستر انقلاب دوي ته په ميراث پاتي دي . دوي بايد ددي انقلاب داصالت نه ددفاع په خاطرمجهزشي، بايد ځوانان منظم شي موږ ددي اراده لروچي ان شاء الله راتلونکي شوري اوبيا ددغه مرکزي شوري ديريکړو په اساس چي دحزب تنظيمي اواداري اموراتوکي څه تبديلي اوتغيرات راځي ددي په نتيجه کي به وتوانيدلي شو چي موږ دځوانانو، دطلبه وو اومحصلينو مستقل تنظيم جوړکړو، دغسي چي دهغوي ناظم به منتخب وي، هغوي به ځان ته ارکان اواعضا لري، دوي به منتخبه شوري لري اودبيل هيکل اوتنظيم په حيث به په مستقل طوريه عمل کوي اوهمدغه تنظيم به حزب ته دآزموينو اودمختلفو مراحلو دطريقو تيرولو او پلي کولو نه پس ارکان اواعضا ورکوي، ځوانانو تراوسه پوري هم الحمدلله ددي اسلامي انقلاب نه ددفاع په خاطر ستر ، سترکارونه کړي دي تاريخ به دائه هيروي زه اوس ددي له پاره مناسب فرصت نه ګورم چي داټول يادکړم زه باورلرم دايو حقيقت دي په دي کي هيڅوك شك نشي کوي چي لوي ، لوي سازشونه ددغو طلبه وو اومحصلينو داقداماتوپه نتيجه کي شنډشوي، زموږ اصلي قوت همدادي ، زموږ منظم اوددي انقلاب پاسداران قوت همدادي په همدي خاطر موږ غواړو چي دوي بهتره تنظيم کړو اوکه الله (ج) لطف وکړاوموږ وتوانيدلي شوچي داانقلاب اودجهادپه غيږکي سترشوي منورطلبه اومحصلين درست منظم شي نو ان شاء الله ددي انقلاب داصالت نه ددفاع له پاره به

دغه قوت کفايت کوي راتلونکي اسلامي ټولنه به ستاسي په لاس جوړيږي اوبو واقعي اسلامي اجتماع،به دهمدغو ځوانانو په لاس جوړيږي . بايد دوي دشراوفساد دځواکونو دمقابلي له پاره تيارشي ، دوي بايد دافغان ولس دجذباتو اواحساساتو دتمثيل له پاره دخپلوتظاهراتواواجتماعاتو له لاري خپل غږاوچت کړي ددوي په غږکي لوي قوت دي، ددوي په شعارونو ستر، سترکارونه کيدي شي موږ ته ددوي دشعارونو اهميت هم معلوم دي که دوي ريښتيا هم منظم شي اوخپل غږ اوچت کړي خپل شعارونه ولس ته ورسوي اودخپل ولس داحساساتو اودغوښتنو درسته ترجماني اوتمثيل وکړي زه باورلرم چي دغه قوت دټولو سازشونو دمقابلي له پاره کفايت کوي .

زه ورونوته اطمينان ورکوم چي دنجيب عمرلنډ دي هغه به ان شاء الله ډير ژر رانسکوريږي اودهغه دبقا هرچانس نورختم شوي .

که روس ددي نه عاجزشو نوامريکا هم نشي کولي دخپلو سازشونوله لاري ددي کرغيړن منفوررژيم بقا تضمين کړي، امريکاله دي سره دلچسپي لري چي دنجيب حکومت دي ادامه ورکړي، ځکه هغه دنجيب له پاره بل بديل نه ګوري، که ... چي ځاي ئي دمجاهدينو حکومت ونيسي، کرم حکومت چي دي دخپلو ګټو اومصالحو

دافغانستان راتلونکی

لاوبازارونه وي .

وروروحکمتيار وويل : " ايکو " په څير هرکوشش هغوي ددي نوي نړيوال نظام لپاره يوچلنج ګڼي او دعصيان اوسرکشي په څير يي تعبيروي . حکمتيارزياته کړه که په افغانستان کي دمجاهدينو حکومت جوړشو دافغانستان دولت به نه يوازځي ددي اقتصادي تعاون دمجلس غړي وي بلکي په هغه کي به موثر رول اداکوي .

هغه قوتونه چي اسلامي هيوادونه بيل، بيل په فقر، لوږه ، احتياج اوغلامي کي ساتل غواړي يوازځي همداقوتونه اويه هغوپوري ترلي حلقي په افغانستان کي دمجاهدينو په لاس داسلامي حکومت دجوړيدو مخالفت کوي .

عجيبه داده چي په پاکستان کي ځيني هغه نام نهاد ليډران چي پرون به ئي دمجاهدينوپه خلاف ويل . امريکا غواړي دنجيب په ځاي دمجاهدينو فلاني مشر حکومت جوړکړي ، خو اوس وايي چي په افغانستان کي به دمجاهدينو حکومت څنګه جوړيږي چي امريکايي نه غواړي، انشاء الله که امريکااويه هغه پوري ترلي حلقي وغواړي اوکه ونه غواړي په افغانستان کي به دمجاهدينوحکومت جوړيږي. اسلامي حکومت دراتلونکي افغانستان محتوم مقدردي، بايد داواقعيت ټول تسليم کړي .

له پاره لوي خطرګڼي، له همدي له پاره امريکا ددي هڅه کوي چي دنجيب دحکومت دختميدو هرکوشش دماتي اوشکست سره مخامخ کړي .

اوان شاء الله دجهاد له لاري اودمجاهدينو په لاس به دنجيب حکومت رانسکوريږي دجهادپه خلاف ټولي توطيي په انشا ء الله له ناکامي سره مخامخ کيږي ، داجهاد به خپل هغه اصلي سرمنزل ته رسيږي ، ان شاء الله په نيږدي مستقبل کي به دمجاهدينو په لاس اسلامي حکومت جوړيږي .

ټول تنظيمونه اومجاهدين بايد داواقعيت درك کړي چي له دي نه پس ته خانداني حکومتونه چليدي شي اونه کودتائي ، اونه دڅه محدودو کسانو دخوښي تحميلي حکومتونه افغانستان اداره کولي شي ، بايد افغان ولس ته ددي موقع ورکړي شي چي دخپلي عقيدي او مصالحوپه رڼاکي دخپلي خوښي منتخب اسلامي حکومت جوړکړي، چي په چاني اعتمادوي هغه ته دحکومت دجوړولو موقع ور کړي . نه يوازځي په افغانستان کي به ان شاء الله اسلامي حکومت جوړيږي بلکي زماپه دي خبره باوردي چي داپيري داسلام دبري پيړي ده ، داسلام تير عظمت اومجدبه يوځل بيا اعاده کيږي ، امريکا به دروس په شان ختميږي ، دهغه زوال هم رانيږدي دي .

شکوروخداي (ج) دخپلي لاري دمخلصو مجاهدينو اودشهداوو قرباني هيڅکله نه ضايع کوي، څوك چي ګمان وکړي چي ددغو شهداو قرباني به ضايع شي هغه دالله (ج) په نسبت بدګمانه دي، دالله (ج) په وعدوئي باورنه دي په دي يقين نه لري چي الله (ج) ظلم نه کوي، الله (ج) دبنده حق نه ضايع کوي دهغه قرباني نه ضايع کوي، څوك چي دالله (ج) دوعدو په نسبت بدګمانه وي هغه به له دي ناحيي نه تشويش لري چي شايد دمجاهدينو قرباني ضايع شي، زه باورلرم چي انشا ء الله دافغان مجاهدينو ارمان به ترسره کيږي اوپه افغانستان کي به يوواقعي اسلامي حکومت دمجاهدينو په لاس جوړيږي .

اقول قولي هذا استغفرالله لي ولکم والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته .

(له کتاب نه پلي کوونکي :" عبدالهادي " نيازي ")

دنوم بدلول

وروروحاجي ثناګل دحاجي خيالي ګل زوي ديکتياولايت دخاځيو ولسوالي دروقياتو کلي اوسيدونکي چي اوس په ضلع کوهات تحصيل هنګو دواګخانه دوآبه په بازارکي استوګنه لري خپل نوم په حاجي ثنا ء الله " رشيديار" سره بدل کړي .

اعلان مفقودي

طفل سه ساله به اسم حميدالله ولد عبدالمحمد کلانتر مربوط ولسوالي آقچه ولايت جوزجان فعلاً باشنده کمپ پنج، مسکين بتاريخ ۱۳۷۰/۱۱/۱۴ ساعت ۱۱ قبل ازظهر لادرك ګرديده است ، اشخاصيکه در مورد نامبرده اطلاع داشته باشند به تلفون نمبر ۲۱۲۷۲۱ شينواري مارکيت تماس ګرفته ويا به کمپ پنج، مسکين به فاميل وي اطلاع دهند.

دسرمقالي پاتي برخه

،اودادي اوس ګورو، چي له يوي اوبلي خوابي دبري لپاره ناکام زيارونه ګالي . ناکام پدي ماناچي دخپل هدف لپاره داسي اشخاص انتخابوي، چي په ډيره کي مثبت اومنفي هيڅ ډول رول نه لري، لکه پخواني پاچا اوياپه پاکستان کي پرمهاجرينو اومجاهدينو دفشارلپاره دملي عوامي ګوندماتي خوړلي مشرولي خان اوياپه اصطلاح قومي مشران .

دپخواني پاچا رول اوحيثيت چي يوه بي مانا اوپوچه خبره ده ، په بحث نه ارزي، خوولي خان هم هغه څوك دي، چي پخپله انتخاباتي حوزه کي بي ديوه دينې عالم په وړاندي ماتي خوړلي ، اوپدي توګه پري دخپل ولس باورختم شويدي، خودي هم چي کوم سياسي اوفکري استحکام نه لري، دخپل پروني خط پرخلاف اوس په امريکا بي سفارتخانو عصريي وهي اوزموږ دېري دسياسي حل په نامه امريکاهم غولول غواړي دقومي مشرانو خبره چي لوديځ بي ډيره تبليغوي اواتکاپري کوي، ځکه غلطه ده ، چي دافغانستان ملي وضعيت اوس اوس پوره تغير موندلي، اوولي به نه وي، ځکه زموږجهادچي دتري نقشه بدلولي شي، نوپدي تناسب بي بايد داخلي اقبېزه يوپه څو چنده وي، اوله همدي کبله زموږ قومي مشران هغه مجاهد قوماندانان اومجاهدين دي، چي پدي لارکي بي دسراومال قرباني ور کړيده . دبيګلاك سياسي حل ونشو کولي، چي دکابل ګوډاګي رژيم ته نجات ورکړي، اوهمدا اوس لاسپوځي نجيب بوځل بيا امريکانه غوکړي، چي که بنيادګرايان حکومت ونيسي ، نوافغانستان به دهيروئينو اوترورېزم مرکزشي . له امريکانه دنجيب امان غوښتل او داډول ويره دمجاهدينو دهغوبرياليو برغلونو نمايندګي کوي، چي دکابل دکلابندۍ کړيد ورځ په ورځ تنګوي، ديوځ ترمنځ خپلمنځي کشمکش اومجاهدينوته تسليميدل چي يوه‌وامداره شکل لري . همداډول دداوري تبديل اودبختني کميدل نه دمجاهدينو په حملوکي شدت راولي، چي اوس هم پيل شوي دولايانودعلياتو نه په صرف نظر دکابل ترڅنګ ديوه پوځي ديپو الوځول، اودبګرام په هوايي ميدان دمجاهدينو زور وربرغل چي پنځه ويشت پوستي بي فتحه کړي ، دپوځي اوسياسي کتونکو په خيال دکلابندکابل دبشيري سوبي پيلامه ګڼل کيږي . ځکه دلاسپوځي رژيم دخپلمنځي ګډوډي اوانحطاط نه داهيله نشي لرل کيدلي، چي پخپل ماتي خوړلي اوپريوتي مورال به دمقاومت توان ولري ، اوکه له دي پروسي پرکابل دګډوعلياتو پلان عملي شوي وي، نوبيا به حالات داسي نه و . خومتاسفانه دځينو حلقو انانيت اورخه ددي لامل شوه ، چي ګډ عمليات وځنډيدل . همداډول په ګوډاګي پوځ کي د پاڅونونو ابتکارات هم ترغور لاندي ونه نيول شو، اواوس هغه نازکي شيبي رارسيدلي، چي دجهادي ځواکونو يوه دقيقه غفلت به موږهدف اوارمان مزل لاپسي اوږدکړي . نورنو بايد خپل ټول جهادي ځواک په حرکت راولو، اودمجاهدينو ترمنځ ګډ تفاهم اوهمکاري هغي پولي ته ورسوو ، چي ترڅودسياسي حل ونډووره چپان خبريږي ، چي موږ پرکابل اسلامي بيرغ رپولي وي، اودا له يووالي، خودګذريږ اوقربانيږ پرته ممکن نه ده ، دباداوني ورده ، چي پدي ووخوشبوکي دنړيوال کفر ديروپاګند مرکزي نقطه دحزب اسلامي مجاهد قيادت ګرځيدلي، اوداددي خبري څرګنده نښه ده چي داسلامي حکومت په باب بي له همدغه ځايه سترګي سوځي ... جهادي ... دوستيت اوپه ترخ وه تشخص خپل جهادي معرفت لاپياوړي کړو.

چون وچرا

فريدون « آفراسيابي »

سانحهٔ پلوسي

شايد ازواقعه ايکه روزجمعه درپلوسي پشاور رويداد چيزي شنيده باشيد، بعدازظهراين روز، غرض عيادت مريضي به محله ايکه درنزديکي پلوسي واقع است رفته بودم . دربازګشت ، روي موتري که ازپلوسي جانب "سپين جومات" ميرفت سوارشدم . درموتر مردم ازمهاجرين بدګوئي داشتند، ميګفتنديك مهاجر امروزهشت نفرپاکستاني راقتل کرده است ، حالاباید مهاجرين را هرجامي بينند بزنند وبقتل برسانند .

همه راکبين احساساتي بودند، من دربين صحبت شان مداخله کرده ګفتم : اګر اين درست است که بخاطر يك جاني ويا چند نفر داکوي پاکستاني همه پاکستاني هارابديګويند وبکشند، پس شماهم بحساب جرم يك مهاجرهمه مهاجرين رامورد حمله قراربدهيد، چند کلمه ديګري نيز بين ماتبادله ګرديد، روبهمرفته صحبت من مفيدواقع شد، احساسات دوستان پاکستاني مافروکش ګردوسروصداي موترګم شد .

به هرحال درساعات قبل ازظهرهمين روزيك مهاجر که ګفته ميشود" جان آغا" نام داشته روي وجوهاتي که هنوزمعلوم نيست دونفري راکه ظاهرا درصدد ګرفتارکردن اوبوده اند بقتل ميرساند .

بعدوقتي مردم پلوسي مسلحانه دنبال اومي رفتند قيرودرګيري بيشتر ميشود که درنتيجه بشمول همان مهاجروپسرده ساله او هشت نفرديګر نيز کشته ميشوند، قراريکه تبصره شده مهاجرمذکوريك يادوروزقبل ازآن برادر، همشيره، زن برادر وزن خودش را نيز مورد حمله قرارداده بودکه ازجمله اين چهارنفر تنها زنش زخمي وبقيه به هلاکت ميرسند .

اکثريت مردم بشمول برخي مطبوعات پشاوراين عمل را بي اساس وجنون آميز خوانده اند ولي بګمان يکعده ديګرحتما مسايلي وجودداشته که اسباب خشم وناراحتي فوق العاده آن مهاجر شده است . واقعه مذکور براي يکعده ايکه ميخواهند حلاوت موجود بين مهاجرين و انصار راخراب کنند، بهانه خوبي بود. شاهدان عيني ګفتند : بدنبال اين قضيه (مثليکه من درموترديدم)

افرادي کوشش داشتندکه موضوع رابيك سطح وسيع دامن بزنند وزمينه برخورد مهاجرين واهالي صوبه رابوجود بياورند ولي مردم خويشتن داري کردند وعناصر آتش افروز وفرقه ګرارا مورد ملامت قراردادند . ميګويندمردم پلوسي حتي ارباب جهانګير را که يکساعت بعدازحادثه خودش رابه منطقه رسانده بود اجازه حرف زدن ندادند وارباب صاحب که ازرهبران منتقذ نيشنل پارتي است دربين بين بسيارکم آمد .

راستي آفرين به اين حوصله ووسعت نظرمردم صوبه سرحد، اګرحادثه پلوسي در سي ياچهل سال قبل اتفاق مي افتاد، واقعا که خطرناك ميشد، تاحديکه شايد هزاران نفررابکام مرګ ميکشيد وحادثه خيلي عرض وطول پيدا ميکرد . اما الحمدلله که جهاد افغانستان وتحولات فکري زمان شعارهاي منطقوي وقومي رابسيار کوچك وحقير ساخته است .

استکبارناګزير است بازهم ازاين سلاح کهنه ومتروك استفاده کند وشعارفرقه ګرائي رادرمستواي بزرګي عليه انقلاب اسلامي بکار بګيرد ، پروګرام اين است که تضاد هاوبرخوردهاي لساني ونژادي درست ميکنند وازتوان وتوفندګي جهاد اسلامي واثرات برون مرزي آن بکاهند .

متاسفانه اداره ايکه خودش دربرابر حوادثي نظيرحادثه پلوسي مسئوليت احساس کند بين مهاجرين وجودندارد وګرنه حق داشت که باخانواده هاي مصيبت ديده همدردي مادي ومعنوي ميشد وبراي افشاي بيشتر فرقه ګرايان زبون وظالم اقدامات لازم صورت ميګرفت .

حادثهٔ پلوسي اګرازيکطرف سانحهٔ دخراش وتاثر آوريست ، مثال خوبي براي کمرنګ شدن وازرواج افتادن انګيزه هاي قومي نيز شمرده ميشود . حقيقت اينکه دوران کارايي نشنليزم پايان ګرفته است ان شاء الله کمونيزم باآن بعدفکري که نتوانست جلو انقلاب اسلامي رابګيرد، نشنليزم بااين مسخره بازيها هرګز باراي ايستادن دربرابر جهادرانخواهد داشت .

خان صاحب په پاکستان کي دانتخاباتواوديموکراسي غوښتنه کوی ،خو

په داسي حال کي چي مخکي به بي امريکا استعماري ځواك باله هغه هم دروس دخوښي په خاطر، خواوس بي چي له روسانو طمع قطع شوي نه يوازځي امريکانه چاپلوسي کوي ځکه چي اوس امريکا دافغانستان په ارتباط اوډيوروملکونو په هکله څه کوي دده دپلارداصولو مطابق دي، په داسي حال کي چي ده ته دچارسدي خلکوهم داعتماد رايه نه ده ورکړي . خوهغه دعوه کوي چي اوس اوس امريکا، ايران ، پاکستان اوټوله نړي ددي خبري منلو ته مجبورشوي اوهمغه څه وايي چي ده ويل :

دادچارسدي خان ګمان کوي چي مهاجرين دغربت اوفقر په واسطه پاکستان ته راغلي، حال داچي هغوي دخداي له پاره هجرت کړي اوهرڅه بي شاته پريښي دخيمو لاندي دپاکستان په دښتوکي بي سخت ژوند قبول کړي .

سياسي کميته وايي چي دچارسدي خان ګمان کوي چي دپارټيو مشران بايد سرداران ، خانان ، جاګيرداران اودموټر وخاوندان وي، هغه خلك ورته فقير بريښي چي څه نلري په داسي حال کي له موږ نه کافي جايداد په خپل ملك کي پاته دي خواوس موږڅه چي بوزوږ بايسکل هم نلرو، موږ سره که وسايل اوموټر دي دادتنظيم دي شخصي نه دي که هرڅوك امير شو هغه ته به وروسپارل کيږي زموږ دا تعهد له الله سره دي اودا

مودعاده چي کله مرونو له موږ نه يوه پيسه هم شاته پاته نشي دحزب امانتونه موخپلوانو ته په ميراث پاته نشي ، زموږ دکورنيو له پاره زموږ دپلارنه راپاته شخصي جايداد کفايت کوي ، نه راڅه دهلد واتوتوکري پربږده اوزښتيا پښتون شه موږپه دخپلي ځمکي نه په افغانستان کي ستاسي دچارسدي دباغ په اندازه ځمکه درکرو څکه تاته مخکي داباغ انګريزانو درکري ؤ ، که خامخا نوکري کول اوپيداکولو نه خان مجبورګڼي راځه دمجاهدينو نوکري وکړه . دغسي باغچه مجاهدين هم درکولي شي دپلي خوا نه تاکه داخبره دخپلي پارټي هغو کسانوته متوجه کړي وي چي زوږ بايسکل بي هم نه درلود خواوس ستري ستري بنګلي لري شايد ستا اصلي هدف همدغه کسان وي چي اوس بي ځاي نيولي اودوي ورباندي راضي نه دي، نه پوهيږو دي ته چاداحق ورکړي چي دپاکستان دولس په نمايندګي غواړي افغان مهاجرخپل هيواد ته ولاړشي، حال داچي دچارسدي خلك دي هم دنمانده په حيث نه مني اوتاته داعتماد ووټ نه درکوي، تاڅه دپاکستان خارجه وزير له ځانه جوړکړي اوبيانات ورکوي، پنجابي، سند ي، اوبلوچي داخبره نکوي اوته خوخپل ځان پښتون هم ګڼي .

موږهغوخلکوته حيران يو چي داسي يوي

اصوله اوبي پرنسيپه کس دي ديو رهبر په حيث ومني چي دئن خبره ئي ديرون خبره اودوه ورځي مخکي خبره ئي له هغي مخکي خبره تکذيبوي، نه خوپه ژوندکي کومه ايډيالوژي لري اونه کوم خاص اصول اوپرنسيپ . پرون ئي ويل چي امريکا دمجاهدينو حکومت غواړي اوس وائي چي مجاهدين به څنګه حکومت کوي چي امريکائي هم نه غواړي . نه اوس دمجاهدينو دحکومت دمخالفت خبره په همدي خاطرکوي چي امريکا وړباندي راضي نه ده ، په لنډي کوتل کي ورته داسي يوڅوك غونډه جوړوي چي ترپرونه پوري بي دکابل څخه کلاشينکوف راوړي اوپرون پيترتامسن روم ته ليږلي ؤ، دئکټ قيمت ئي هغه ورکړي، هره ورځ له موږ نه دملاقات غوښتنه کوي خو دومره کم شخصيته دي چي موږ ورته دڅو دقيقو وخت دضايع کولو له پاره هم تيارنه يو .

دده له پاره ديرون ورځي امريکا پرځاي نن ورځي حکمتيارسبريياوړ ګرزيدلي . ټولو غونډو کي بي خپل وخت دهغه په خلاف بياناتوته وقف کړي .

خان صاحب په پاکستان کي دانتخاباتو اوديموکراسي خبره کوي خوپه افغانستان کي دظاهرشاه دمنحط سلطنت احيا غواړي اودخانانو دلوئي جرګي دجوړيدو خبره

کوي اوپه دي هکله دواشنګټن دمنصوبي ملاترکوي چي کله غيورواويوه پښتانه په انتخاباتو کي ده ته رايه ورنکړي نودهغوي په خلا ف تبليغات کوي چي ديپسوپه مقابل ئي بي بل چاته رايه ورکړي که داخبره ريښتيا وي نوشايد دخان صاحب هغه ملګري چي کامياب شويدي ديپسو په مقابل کي کامياب شوي وي . د(اي ، جي ، اي) دي کورآبادشي چي دهغه له برکت نه دخان صاحب دپارټي خوهغه کسان کامياب شول چي خلکوته پيژندل چي دوي ددي پارټي غړي دي . اوکه نه څنګه ممکن وه چي دپارټي ليډر ناکام شي اوکارکن ئي کامياب .

خان صاحب په انتخاباتوکي دخپل ناکامي الزام هم په حکمتيار وراچوي دسياسي کميتي په ويناکي راغلي که . حکمتيارد پاکستان په سياست کي مداخله کولي نو پښتنوته به ئي په واضح الفاظو ويلي وو چي دبهارت او روس ايجنټانوته رايه مه ورکوي . موږ باورلرو چي که دا اوس حکمتيار ، خانصاحب سره په چارسده کي کانديدشي نوخلك به ده ته رايه ورکوي پښتانه خپل مخلص اوواقعي خدمتګاران پيژني داځکه تاسي پخپله واياست چي دهغه دخوښي نامزد ستاپه خلاف ترده نه زيات ووټونه ترلاسه کړي .

زمونږ دجهاد

کي ځيني پاکستاني تنظيمونه له هغي جملي نه عوامي نيشنل ګوند ترکومه ځايه دامريکي په چوپړکي ده اوڅومره ددي پلان دعملي کولو په جهت کي هاندکوي .

په همدي توګه دمختلفو قومونو غونډي اوبيا له هغوي نه يوکس دهغه قام دوياندپه توګه دتري له راديو ګانو سره مرکي کول داټول ډير خطرناك حرکتونه دي . که څه هم ګورو چي ځيني قامونه دجهادپه پلوي غونډي کوي اودايوتيك اقدام دي خوداسئاله له پامه نشوغورځولاي چي امريکا حتي دقامونو

ترمنځ دبيلتون دراوستلو لپاره کارکوي داهغه خطرناکه منصوبه ده چي امريکا په راتلونکي کي دخپل پلان دعملي کولو لپاره تري ډيره ګټه کولاي شي .

اوس نوخبره بيا جهادي مشرتابه ته متوجه کيږي چي هغوي داستعماردسايس په جدي توګه احساس کړي اودهغي دشنهولو په لارکي جدي عملي ګامونه واخلي . يوازي په تشه ويناته شل کيږي بلکي دجهاد دکاميابي او داستعماردپلانو اوتوطيو دمخنيوي لپاره عملي اقدام ته اړتياده .

اعلان مفقودي

برادر علي محمد مشهوربه شيرعلي مسکونه سفيد چهر پنجشير ولايت پروان به نسبت خلل دماغ ازمدت دوماه به اينسو دربازار اکوړه ختك مفقود ګرديده است کسانيکه ديده ويا ازآن اطلاعي داشته باشند لطف نموده به آدرس محله رشالګر جي ټي روډغلام ربي تيلر هاوس جان آغا اطلاع دهند.

نبوي ارشاد

له حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: الله جل جلاله له هغه مسلمان سره مينه لري چي په زيارسره خپله روزي پيداکوي

ترغيب (طبراني په حواله)

اخبارجهان

دملگرو ملتو عالي كمشنر دبرما مهاجر بنوته دمرستي غوښتنه كړي.

دمهاجرينو لپاره دملگروملتو عالي كمشنر پدي لته كي دي چي ونړيوالو نه غوښتنه وكړي چي د برما دزرگونو مسلمانانو سره دمرستي لپاره چي بنگلديش ته بي كډه كړي پيسي برابري كړي .

دملگروملتو دوه تنه مامورين چي دبنگلديش په جنوب كي بي دمهاجرينو دكمپوڅخه كتنه كړي دبراضطراري حالت په باب بي خبري كړي چي دخوراكي موادو دنه پيداكولو اودځاي دنه درلودلو له امله مهاجرينو ته پيښ شوي دي. ددغومامورينو څخه يو تن وويل چي په تيرو دولسو كالو كي ده داسي بدحالت نه و ليدلي.

تشدد هاي قبل از انتخابات درپنجاب ١٩ كشته بجاگذاشت.

دهلي ٢٩ دلو:

موج ديگري از تشدد هاي قبل ازانتخابات درايالت اشوب زده پنجاب هند باعث هلاكت (١٩) نفر شده است.

پوليس گمان مي برد كه مبارزين سك (١٢) هندو و (٧) سك را دردو حمله جداگانه درشب دوشنبه بضرب گلوله به قتل رسانيدند.

مبارزين جدايي طلب سك وهمه احزاب سياسي آن به استثناي يك حزب درنظر دارند با انتخابات مقاطعه نمايند. اين اولين انتخابات درپنجاب درهفت سال بوده وروز چهارشنبه داير خواهدشد.

تايلند مقدمات برگرداندن ناراضيان برما را روي دست گرفته است .

بانكوك - ٢٩ دلو:

تايلند تصميم گرفته كه پلانهاي خودرا براي تاسيس كمپي براي ناراضيان برما درامتداد سرحد بابرمابحيث مقدمه برگردانيدن اين ناراضيان عملي نمايد.

مقامات تايلند ضرب الاجلي را كه براي تبعيديان برما جهت ثبت نام جابجا شدن درين كمپ به ولايت راج چاپوري تعين كرده بودند. تمديد كردند.

چين ادعا كوي چي په هغه هيواد كي سياسي بنديان نشته .

په غرب كي دبشردحقوقو دساتني دلوبونوي ريوټ خپوركړي او وايي چي چين دهغه اندازي نه چي منلي يي ده په تبت كي زيات سياسي بنديان ساتلي دي.

په نيويارك كي دايشياوا په نامه دبشرد حقوقو دله او په لبنان كي دتبت دمعلوماتو دشبكي په نامه دله وايي چي په ١٩٨٧ كال كي د ديموكراسي په طرفداري دمظاهرونه وروسته په تبت كي (٣٦٠) تنه سياسي بنديان ساتل شوي دي.

دوي وايي چي (٢٤٠) تنه په تير سپتمبر كي هلته بنديان وو اوزياتره يي تراوسه ندي محاكمه شوي.

چين وائي چي هغوي سياسي بنديان نلري خو تيركال دهغو هيواد مقاماتو ويلي وو چي په تبت كي (٥٠) تنه دانقلاب ضد فعاليتونو په دليل مجرم پيژندل شوي دي .

نمايندگان فلسطيني درمورد اشتراك در مذاكرات واشنگتن گفتگو مي نمايند.

بيت المقدس - ٢٩ دلو:

نمايندگان فلسطيني ها درمذاكرات صلح شرق ميانه ،مقاطعه با دور آينده مذاكرات رابه عنوان اعتراض به توقيف دونماينده آنها درين مذاكرتحت غور گرفته اند.

فيصل الحسيني رهبر فلسطينيها ، اسرائيل را متهم نمود كه سعي داره.

عمليه صلح را بااين تحريكات لطمه بزند دوفلسطيني كه قراربود جزء يك هيئت توسعه يافته فلسطيني باشند بدون كدام الزام يامحاكمه ازطرف اسرائيل براي شش ماه زنداني شده اند.

قراراست مذاكرات دوجانبه صلح روز دوشنبه درواشنگتن ازسرگرفته شود.

٤٧ هندو حين انجام مراسم مذهبي....

دهلي - ٢٩ دلو:

حداقل ٤٧ هندو درمراسم مذهبي درجنوب هند زير پاشده ، هلاك گرديدند.

درحدود (٢) ميلون نفردركنار معبدي درشهر كوم باكوخان جمع شده بودندكه اين معبد فروريخت وباعث وحشت وفرار مردم گرديد. پوليس ايالت تاميل نادو مي گويد اكثر هلاك شدگان زنان واطفال بودند وتعداد زياد ي نيز زخمي گشتند. اين اشخاص درمحلي جمع شده بودند كه خانم جيه ليتا وزيراعلي تاميل نادو در اب مقدس غسل ميكرد هندوها عقيده برآن دارند كه اين آب آنها راازگناهان شان پاك مي كند.

امريكا وروسيه پلان ...

گوزيوف وزيرخارجه روسيه اعلام شد. وزيرخارجه روسيه گفت آنها در امر ازبين بردن همه ذخاير اسلحه ذروي شوروي سابق وايالات متحده كه طي دو دهه اخير ذخيره شده است مذاكره نمودند .

آنها هم چنان به امكان ايجاد نظام تقليل مشترك راكت هاي بلاستيك وپيشنهاد هاي مربوط به شريك ساختن روسيه درتكنالوژي دفاع راكت مستقر در فضاي ايالات متحده ، نيز مذاكره نمودند.

حکمتيار

دافغانستان راتلونكى اسلامى دولت به د"ايكو" موثر اوفعال غړي وي

افغان نيوز ايجنسي - ٣٠ دلو ١٣٧٠ :

په غرب پوري تړلي حلقي اوآژانسونه داتبليغات كوي چي گويا دمركزي آسيانوي آزادشوي جمهوريتونه ددي نه تشويش لري چي په افغانستان كي دبنيادگرايانوحكومت جوړشي .

حقيقت دادي چي دادغو جمهوريتونوتشويش نه بلكه په غرب پوري دتړلو حلقو تشويش دي چي نه غواړي ددي منطقي ملكونه دي پريوموثر تجارتي بلاك كي راغونډشي دغه حلقي هڅه كوي چي .

په افغانستان دغرب دخوښي داسي يوحكومت راشي چي ددغوهيوادونو ترمينځ ديوه حايل په څير كاروكړي .

اويا نجيب په خپل حال پاتي شي ، په افغانستان كي جنگ دوام وكړي .

وروورحكمتيارزياته كړه كه داجمهوريتونه ديواسلامي حكومت څخه ويريږي نوداايران سره به ئي نژدي تجارتي اواقتصادي روابط نه ټينگول او معاهدي به ئي ورسره نه كولي اوپه " ايكو" كه به نه شامليدل

حكمتياروويل : دغرب له خوا مامورشوي حلقي په پاكستان كي هم دادروغجن اوبي بنياده تبليغات كوي ، خوخبره داده چي دغرب كوشش دادي چي په هيڅ صورت هم اسلامي هيوادونه ترهيڅ نامه لاندي يوبل ته نژدي نشي هغه وويل : اوس دامريكاپه (نوي نړيوال نظام كي) په نظركي نيول شوي . اروپا ، امريكا، اودلري ختيځ ملكونو ددي نظام له مخي په پام كي ده چي دمنځني ختيځ ، جنوبي آسيا اودمركزي آسيا ځني هيوادونه بايد په داسي حالت كي وساتي چي هريو دهمدغي اقتصادي اوتجارتي بلاكونو لپاره داستهلاكي موادو ماركيټونه او خرڅ

(٧)مخ

دسمافرقي دنهمي دوري دفارغانو په وياړ غونډه وشوه

نصرت مينه

دسما دفرقي قوماندانې دشهادت ورځپاڼي اداري ته ريوټ راكړي چي څو ورځي مخكي په نصرت مينه كي دسما د فرقي د قوماندانې په انگړكي د دغي فرقي دارزيابي كورسونو دنهمي دوري دفارغانو په وياړ يوه شانداره غونډه وشوه .

غونډه دقرآن عظيم الشان دځومباركو آيتونو په تلاوت سره پيل شوه .

دپروگرام په سركي وروور يارملا مسلميار خپله ارزښتناكه وينا واوروله ويي ويل :

پدي دوره كي تقريبا ٣٨٠ تنه مجاهدين ثبت نام شوي چي د آزموينې په دوران كي ٢٧٧ تنه مجاهدين كامياب او په مناسبو ځايونوكي دتوظيف كيدو په خاطر ليږل كيږي . مسلميار ،دفرقي مجاهدين خپلو مسئوليتونوته متوجه كړل ترې ويې غوښتل چي په اخلاص سره خپله دنده ترسره كړي.

دحزب اسلامي دمامورينو درسمي كاروختونه تغيرشول

ددارالانشاء دفترخبروركوي چي دحزب اسلامي دمامورينو درسمي كاروختونه هره ورځ سهار له اؤتيمو بجو څخه پيل اودمازديگرتر دري نيمويجو پوري دوام كوي .

په خبركي زياته شوي چي دپنجشنبي ورځ دجمعي دورځي په شان عمومي رخصتي ده په خبركي داهم راغلي چي بايد دحزب ټول منسوبين دقائمي په شمول ټول مراسم دپنجشنبي اوجمعي په ورځوترتيب كړي ترڅو دمامورينو دوخت دضياع سبب نشي .

ددارالانشاء ددفتر خبرتيا

دحزب اسلامي افغانستان په مركزي دفترنصرت مينه كي دسلواغي دمياشتي په ٣٠ مه نيټه هر سهارترلس نيمو بجو پوري دقرآن عظيم الشان دترجمي اوتفسيردوره پيل شوي،

چي ان شاء الله دروژي مباركي مياشتي ترپايه پوري به دغه دوره ختمه شي، ورونو ته خبروركول كيږي چي په دې له فضيلت ډك درس كي گډون وكړي بايد ووايو چي په درس كي دحزب اسلامي د مركزي دفتردټولو مامورينو گډون حتمي دي .

ظاهرشاه دافغانستان دمجاهدملت دښمن دى

حاجي عزيزالرحمن .

حاجي عزيزالرحمن دننگرهار ولايت دغني خيلو ولسوالي دبهي كوټ علاقداري دشهادت دجبهي قوماندان په خپل يوبيان كي دروانو سياسي حالاتو په باب خپل نظرداسي څرگندكړي.

پدي خو هرڅوك پوهيږي چي ظاهرشاه يوفاسد عياش اودافغانستان دمجاهد ملت يوښكاره دښمن دي او دڅلويښتوكلونو په شاهي دوران كي يي دومره خيانتونه كړي چي هيڅ يومسلمان به يي له ياده ونه باسي، وروور عزيزالرحمن ويلي په افغانستان كي به هغه څوك دملت واگي په لاس كي اخلي چي هغوي جهاد كړي شهادتونه يي وركړي اوكورونه يي ويجاړ شوي دي تاسو فكر وكړي چي دروان جهاد په دوران كي ظاهرشاه يي له دي چي په غرب كي بي فحاشي اوعياشي كړي نوبه كومو سترگو به ملت ته راځي قوماندان صاحب دملگروملتو د(٥) فقريي طرحي په باب خپل نظر داسي څرگند كړي دبنين سيوان منتوي اوهلي ځلي چي دخوروخت رابدبخوابي پكار اچولي دده داهلي ځلي به هيڅ ځاي ونه نيسي او نه به دافغانستان په مجاهد ملت داطرحه عملي كړي دجهاد دښمنانو دپخوانه په ټول ټول دسيسولاس پوري كړي اوغواړي چي زمونږ د انقلاب ثمره په خپل لاس كي واخلي زه په ډاگه وايم كه بنين سيوان هر څومره ځان ستړي كړي نودده سفريه ناكام اوبي له كومي نتيجي وي افغانستان دافغانانو ملك دي اودافغانانو په لاس به اسلامي حكومت پكي جوړيږي ان شاءالله .

داسامه بن زيد دحوزي انتخابي ټاكني وشوي

دروان كال دسلواغي دمياشتي په ١٨ مه نيټه داسامه بن زيد دحوزي محصلينو په پندوكمپ كي يوغونډه وكړه دا غونډه چي گڼ شمير محصلينو، زده كونكواواستادانو پكي برخه درلوده دقرآن عظيم الشان دځومباركو آياتونو په تلاوت چي دوروور محمد اجمل لخوا تلاوت شول پرانستل شوه .

دغونډي په پيل كي دنوموړي حوزي مرستيال وروورنياز محمد اودحوزي ناظم عبداللطيف ثاثب ارزښتناكي ويناوي وكړي اومحصلين يي خپلو مسئوليتونو ته متوجه كړل په آخركي يي خپلي انتخابي ټاكني پدي ډول اعلان كړي.

- وروورعبداللطيف "ثاثب" دناظم په توگه .
- وروورنيازمحمدعابد دمرستيال په توگه .
- وروور محمد اكبر "فقيريار" دارتباط مسئول، په توگه .
- وروورمحمد نظير"خيرخواه" دفرهنگي مسئول په توگه .
- وروور نقيب الله دمالي مسؤل په توگه
- وروور محمد اجمل "عابد" دحلقاتو اوكنفرانسونو د مسئول په توگه وټاكل شول.

دامريكاپه فرهنگي مركز كي دلومړي ځل لپاره يومحفل د قرآنكريم په تلاوت پرانستل شو

پيښور :

دامريكاپه فرهنگي مركزكي دلومړي ځل لپاره يوجورشوي محفل دقرآن عظيم الشان دځوآيتونو په تلاوت پرانستل شو، دغه محفل چي دحزب الله نومي محصل له لخوابكي قرآن كريم ولوستل شو ددغي امريكايي اداري په تاريخ كي يو ريكارد دي، چي مسلمان محصلين يي دځان لپاره بولوي بري گڼي په خبركي راغلي چي كه څه هم داداري مسئولينو هڅه كوله چي محفل دنورو غونډوپه شان په غيراسلامي مراسمو پرانيزي ، ولي مسلماتوزده كوونكو ډير اصراروكراووبي ويل څنگه چي موږاكثرمسلمانان دلته زده كړه كوونو بايد محفل هم په اسلامي شكل پيل شي .

نيروهاي نظامي درهرات دچاراختلافات شده وبروي هم ازسلاح هاي مختلف استفاده نمودند

هرات ٣٠ ر١١ ر١٣٧٠

خبرگذاري ميدبا به نقل از نماينده خود از ولسوالي گذره ولايت هرات به اداره شهادت خبر داد كه منسوبين قواي نظامي رژيم مستقر درشهر هرات بتاريخ ١٣ر١١ر١٣٧٠ دچار اختلاف شده وبجان هم افتاده اند.

گزارش مي افزايد : در درگيري ايكه بين مليشه هاي غند ضربه وقطعات قواي مسلح رژيم مربوط فرقه هفده هرات بتاريخ متذكره روي داد عده يي ازافراد دوطرف متخاصم كشته ومجروح شدند.

گزارش علاوه ميكند : درنتيجه اين درگيري ها كه جوانب درگير ازسلاح هاي سبك وسنگين استفاده نمودند دوعراده موتر نظامي نيز به آتش كشيده شده است.

شمارپناهندگان مسلمان برمايي به بنگله ديش به يكصدو بيست هزارنفررسيد

داكه ٢٧ دلو:

درحاليكه سازمان ملل متحد دركوشش براي كاهش از وخامت وضع ده ها هزار پناهنده مسلمان برمايي ماموريت كمك رساني را آغاز كرده است . دولت بنگله ديش براي مقابله با اين مسئله خواستار كمكهاي بين المللي بيشتري شده است.

مظفررحمن وزير خارجه بنگله ديش گفت : درحدود شصت هزار پناهنده مسلمان برمايي كه از مرز آنكشور وارد بنگله ديش شده اند براي آنكشور دشواري هاي زيادي ايجاد كرده اند. گزارش ها حاكيست روزانه عدهٔ تازه اي از برما وارد بنگله ديش مي شوند كه ميكوشند از مظالم نيروهاي امنيتي برما درامان باشند . قراراست يك نماينده بلند پايه كميشنر عالي سازمان ملل متحد درامورپناهندگان از اردو گاه هاي موقت پناهندگان برما يي درمناطق مرزي ديدن كند . شمار مسلمانانيكه براثر سياست هاي سركوب گرانه ارتش برما به بنگله ديش پناه برده اند به يكصدوبيست هزار نفر رسيده است.

جيمزبيكر اويلتسن په مسكوكي سره وكتل

دامريكا دمتحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزير جيمز بيكر اودروسيي دفدراسيون جمهور رئيس بورس يلتسين په مسكو كي خبري كړيدي .

توقع كيږي چي په دغوخبروكي به داتومي وسلو دكمولواوپه روسيه كي داقتصادي اصلاحاتو په باب اتفاق وشي.

شهادت

بيانگرعقايد وآرمانهاي حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : انجنير"حكمتيار"

صاحب امتياز : حزب اسلامي افغانستان

ناشر :رياستارشادوفرهنگ

سال تاسيس : ١٣٥٧ هجري شمسي

تحت نظرهيئت تحرير

تلفون : ٦٣٧٨٩-٣٠٢٢٤ پشاور

پوست بكس (١٤٦٥) يونيورستي تاون پشاور

په غوركي دكابل رژيم "٥" كسه عسكر ووژل شول

غور دسلواغي ١٦ مه .

دغور ولايت وياړ منوغازيانو دنوموړي ولايت په بيلابيلو سيموكي خپل بريالي بريد ونه پيل كړي اودلاس پوځي رژيم په پلويانو يي داورلښي پوري كړي دي په هغه ريوټ كي چي له نوموړي ولايت څخه دميډيا په حواله ترلاسه شوي ويل كيږي.

مجاهدينو دروان كال دسلواغي دمياشتي په ١٦ مه نيټه دتولك په ولسوالي كي داسمعيل نومي مليشي گڼ شمير پوستي دخپلو دردندوسلو تربريدلاندي ونيوي چي په نتيجه كي دملحد رژيم (٥) كسه عسكر مړه اوگڼ شميرنوريي ټپيان شول.

خبرځاي ليكي چي دمجاهدينو پدي بريالي بريدكي دكمونست رژيم دپلويانو يوشمير ځالگي ويجاړي شوي اومجاهدينو ته كوم تاوان ندي رسيدلي.

دسويدن دوسلو جوړولو يولوړرتبه مقام دهندسياستمداران په پيسواخستلوتورن كړل

دسويدن دباكور دوسلو خرڅولو شركت يو عالي رتبه اجرايي مقام دلومړي ځل لپاره اعتراف كړي چي (٦) كاله دمخه دوسلي ديوي لويي معاملي په اړوند دهند مهمو سياستمدارانو ته مستقيماً پيسي وركړي شوي دي.

نوموړي مقام چي غوښتني يي دي نوم يي يادنشي دداگنزمتر سره په يوه مطبوعاتي مركه كي ويلي چي راجيوگاندي اودهند دكانگرس گوند نورو رسمي مقاماتونه دكمشن وركول دو سلو دمعاملو دوړلو په مقصد د سويدن د بريالتوب لپاره لاره هواره وله چي په هغه وخت كي يي دهيواد عمده صادرات تشكيلول.

دغه معامله اودهغي په اړوند درشوت وركولو تورونه ددي سبب شول چي په ١٩٨٩كال كي كانگرس انتخابات بايلل.

طي بمبارد وحشيانه دولت مزدور،يك تن ازمجاهدين غندفتح به شهادت رسيد

سكرتريت حزب اسلامي افغانستان :

دولت مزدور كابل به سلسله بماردهاي وحشيانه اش به تاريخ (٢٥) دلو ١٣٧٠ درمنطقه چكري ولايت كابل يكي ازقرار گاه هاي مجاهدين فرقه فتح را تحت بمبارد شديد قرارداد.

كه در نتيجه آن يكنفر ازمجاهدين اين فرقه بنام سعادت خان ولد عزيزخان مربوط ولايت وردگ جام شهادت رانوشيد.

دمباركي پيغامونه

دشهادت ورځپاڼي اداري ته دحزب اسلامي افغانستان دامارت لپاره د انتخاباتو په نتيجه دوروور حكمتيار د ستريري له امله دحزب دمختلفو ارگانو له خوا دوروورحكمتيار په نامه دمباركي د پيغامونه لړي روانه ده .

دافغانستان داسلامي پوهنتون داداري له خوا د دغه پوهنتون محصلينو په نمايندگي ، دامام اعظم رحمة الله عليه دعالي مدرسي داداري له پلوه د طالبانو په نمايندگي ، همداراز دشهيد روح الله راشكار دمنځني ښوونځي ،دحضرت عبدالله بن كعب دمدرسي اودحضرت زيد بن خالد رضي دمدرسي دادارو له خوا ددي ښوونځيو دزده كوونكو په نمايندگي او اكوړي خټك دتنظيم طلبه ديني حوزي په خپل وار دوروورحكمتيار دبريالتوب مباركي ويلي دي.

په پيغامونو كي ويل شوي چي موږ وروور حكمتيار ته ددغه سترمسئوليت په سرته رسولو كي له خداي (ج) څخه توفيق غواړو او هيله لرو چي دوروورحكمتيار بريالتوب دنړي داسلامي غورځنگونو د پروالي اوتينگښت اودكفري ځواكونو دماتي سبب وگرځوي ، په پيغامونوكي دا هم ذكرشوي چي لوي خدا ي دي وروور حكمتيار ته توفيق وركړي چي دشرعي اصولو په رڼا كي خپل دروند مسؤليت په احسنه وجه سرته ورسوي اويه صبر، ثبات اوتدبيرسره دښمنانو توطئي شنډي كړي.

ديوه بل خبرله مخي دجماعت علماي اسلام افغانستان اداري ، دشهيد عبدالباقي دمدرسي مسئولينو دوارسعد بن معاذ مدرسي استادانو اوزده كوونكو دحضرت قيس بن سعد (رض) دليسي مسئولينواودجلوزوكيمپ دعبدالله ابن عباس مدرسي منسوبينو هريوه

#####

دافغانستان دقضيي حل داصيلو جهادي تنظيمونو په اتحاد كي نغښتي